

مرکز تدوین آثار رهبر شهید

بسم الله الرحمن الرحيم

# د رهبر پیغام
## لومړی ټوک

---

لیکوال:
شهید پروفیسور برهان‌الدین رباني

## د کتاب پېژندګلوي

دکتاب سرلیک: د رهبر پیغام؛

لومړی ټوک؛

د کتاب فرعی عنوان: د رهبر پیغامونه؛

لیکوال: شهید پروفیسور برهان‌الدین ربانی؛

ټولونکی: د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز؛

تایپ: د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز؛

اډیت: د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز؛

سمونه: د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز؛

تعلیق او تحشیه: د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز؛

خپرندوی: د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز؛

کمپوز او ډیزاین: عصمت‌الله احراری؛

د چاپ نوبت: لومړی؛

د چاپ کال: ۱۳۹۵ لمریز؛

چاپځای: کابل، افغانستان؛

نور معلومات: دا پیغامونه په بېلابېل ډول د اسلامي جمعیّت په خپرونه کې خپاره شوي دي؛

موضوع: پیغامونه؛

چاپشمېر: ۳۰۰۰ ټوکه؛

د مخونو شمېر: ۸۶؛

سایز: جیبی؛

بیه: ۷۰ افغانی؛

چاپځای: بهیر؛

زموږ پته: د شهید رهبر د آثارو رسمي مخ؛

د ایمیل پته: sh.rabbani1390@gmail.com؛



د چاپ ټول حقونه د تدوین له مرکز سره خوندي دي.

## نوملړ

سریزه........................................................................................ ۱۱
د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت........................................... ۱۳
د کمکي اختر په مناسبت................................................ ۱۹
د لوی اختر په مناسبت................................................. ۵۵
د دیوبند دارالعلوم دیوسلوپنځوسمی کالیزی په
مناسبت.............................................................................. ۲۵
منابع.............................................................................. ۷۹

## سریزه

کومه ټولګه چې په لاس کې لرئ، د شهید رهبر د څلورو پيغامونو لاسته راوړنه ده چې په بېلابېلو مناسبتونو باندې يې ليکلي دي.

لومړی پيغام چې سرليک يې دی: «د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت» او دوهم پيغام د «کمکی اختر په مناسبت» سرليک لري،

همداراز دريم پيغام بيا هم «د لوی اختر په مناسبت» او څلورم پيغام له «د ديوبند دارالعلوم ديوسلو پنځوسمی کاليزی په مناسبت» چې په عربي باندې ليکل شوی وه او دادی پښتو ژباړه يې ستاسو په خدمت کې ستون لري، شهيد استاد G په دې پيغام کې له علماؤ څخه غواړي تر څو هغه فتواګانې چې په افغانستان کې د مسلمانانو ترمنځ جګړې ته لمن وهي باطل اعلان کړي.

زموږ کار په دې اثر کې دادی: چې په لومړي سر کې د لارښود مطابق متن په ليک تبديل او اصلاح کوو يې او له

هغــه نــه وروســته د نومونــو ، ځایونو ، ډلــو ، اصطــلاح ګانو ، د معرفــی ترڅنــګ د احادیثو اســتخراج، د آیتونــو ارجاع، د روایتونو مستندکول، او د قولونو نقلول، د آیتونو ، احادیثو او عربــی متنونــو ژبــاړه ، او د توضیــح وړ نقاطــو توضیــح، د آیاتو ، احادیثو ، اشخاصو ، اشعارو ، ځایونو ، ګوندونو ، ډلو او د مفاهیمو فهرست جوړول د کتاب پــه پای کې د دې مرکز له کارونو څخه ګڼل کېږي.

د یادونې وړ ده چې موږ تر اوســه ټول پیغامونه په پشــپړه توګه په لاس کې نه درلودل؛ نو له دې کبله مو و نشوای کولای چــې د وخت پر اســاس ترتیــب په پام کې و نیســو ؛ نو هیله لرو چې له دې کبله مو معذور و ګڼئ.

بــل ټکــی دا چــې د پیغامونــو په ډلــه کــې دوه پیغامونو پــه «بەمناسبتِ عیــد سعید قربــان و عنوانــی کنفرانــس صدو پنجاهمین سال تأسیس دارالعلوم دیوبند» نومونو سره مخکــې هم پــه دوه ټوکو د «پیغــام رهبر» په فارســي ژبه خپاره شــوي دي، دلته هم شــتون لري، هیله مند یو چې وکولای شــو په راتلونکي کې نور ټوکونه هم په پښتو ژبه ترتیب کړای شو.

په هرصورت؛ په ټوله کې دا پیغامونه، په کوچنیو کرښو کــې له یوې خوا ســتر مفاهیم له ځانه ســره لري او لــه بل پلوه د لیکوال د ژور لید لورې استازیتوب کوي.

زمــوږ هیلــه داده چې دا پیغامونو و کولای شــي؛ د تیر په شــان د اوسني نسل په ویښــتابه او لار ښوونه کې مرستندویه واقع شي.

وَمَا ذَلِکَ عَلَی اللّٰه بِعَزِیز.

د شهید رهبر د آثارو د تدوین مرکز

## د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت

میثاق خون؛ لومړی کال، دیوه لسم شمیره، میزان ۱۳۶۰ هـ ش.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِیم

مجاهدو او مهاجرو وَرونو ! خویندو او پـه وینو کی لت پت افغان اولسه !

السَّلاَمُ عَلَیْکُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُهُ

او ورسته له دی:

تاسو د حق او خپلواکـی د لاری سربښـندونکو ته د زړه له کومـی د لوی اختـر مبارکی وایـم، لوی اختر چـی د عقیدی، آرمـان او حـق په لاره کی دیوی سـتری آزموینـی یادونه ده، له تاسو سـره ښـاییږی، هوکی تاسـی د حق لاری د تلونکو لپاره ښـاییږی، چـی د تاریخ پـه ویرونکـی آزموینه کی مـو د خپلی لوړی عقیدی د دفاع، کرامت اسـلامی امت د عزّت او پـه وینو اوبه شوی ټاټو بی لپاره له هیڅ ډول سربښندنی څخه ډډه ونکړه. او د خپـل زړه خـوږی ټوټـی، دوسـتان او خپلـوان مو پـه پوره سـخاوخت سـره دوژلی ځای ته ور وړاندی کـړل. او په زرګونو زرګونو ذبحه شوی (اسمعیل) مو د څښتن تعالی د رضا لپاره قربانـی کړل. او دابراهیم پـه څیر مو دتوپ او ټانکو لمبو ته ور ودانګل او د زندان بو ګنوونکو کړاوونو او تعذیبونو څخه مو

په زړه کې هیڅ ویره نه درلوده.

تاسې هم د خپلو سپیڅلو ماشومانو او دردیدلو میندو سره لکه د اسمعیل او د هغه د سرګردانی مور په شان مو په سوزونکو دښتو او هیبتناکو ګټونوکی وچی شونډی په نامعلوم سرنوشت پسی بی کوره او مهاجر شوی، کومه دنیوی متاع چی مو درلود له هغه مو ټوله له لاسه ورکړه، او په ټولو حالاتو کی مو د تل لپاره دا آواز له شونډو راوت او اوس هم راوځی چی:

﴿قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾[1]

(ووایه بی شکه زما لمونځ، زما قربانی، ژوند او حرکت می خاص د خدای، د عالمیانو د پالونکی لپاره دی.)

نو ربښتیا هم لوی اختر یوازې ستاسی اختر دی که څه هم په کړاو او زحمت کی ژوند تیروی. ځکه چی تاسی د دی اختر مقصد او حقیقت موندلی دی او نورو یی رنګ او بوی.

ربښتیا دا اختر د جنګیالو او سرتیرو اختر دی لکه چی د ابو الأنبیا (ابراهیم خلیل الله) مو د خپل ارمان او عقیدی په لاره کی په پوره میړانه ځانونه سره اورته وراچوی. او د اسمعیل ذبیح الله په څیر دوژلی ځای ته په پوره بیړه ورځی. پدی اختر کی هغه ورونه د مبارکی مستحق دی چی په خونړیو سنګرونو کی د اسلام له سپیڅلی شپول څخه دفاع کوی. او هغه با شهامته خویندی چی د سرغړونی له کبله، د روس وحشی جبارانو د توپ او ماشیندارو دلمبو په مقابل کی چی خولی یی د «الله اکبر» په نارو ډکی وی د کابل په واټونوکی را نسکوری شوی. او د دوی یو شمیر ډلی د سپیڅلو او بی ګناه کوترو په شان په خپلو وینو کی ولمبیدلی او د خدای جل جلاله د

---

۱. انعام / ۱۶۲.

رحمت غیږې ته یې پناه یووړه پاتې نوري یې بندیانې، در په در او بې کوره شولې.

ستاسو دوینو اختر د اسلام د سرلوړې بریالیتوب او د اسارت د زنځیرونو په شلولو او د محکوم ملّت په آزادولو سره بدلیدونکی دی. نو په ټینګار استقامت میړانې او زړورتوب سره چې د مؤمنانو خاصه ده، د خپل خونړي انقلاب د بریالیتوب او غوړیدو لپاره یې ویرې، او بې وسواسه قدمونه واخلې. د دښمنانو هغه دسیسې چې غواړي د انقلاب تګ لاري ته تغییر ورکړي له سره یې شنډې کړې. او د خپلو صفونو یو والي او پیوستون خوندي وساتې. له نیکه مرغه د غیرتمنو دیني علماؤ په همت ستاسې د جنګیالو صفونو په منځ کې اتحاد او یو والي همدا اوس نوې مرحلې ته رارسیدلی دی. د غه اتحاد چې ستاسې د بریالیتوب او قوت ضامن دی په کلکه وساتې. که چیرې په خپلو ویاړو سنګرونو کې یې او یا که د مهاجرت په دوران کې ترخیمو لاندې هر چیرې چې یې. د اتحاد د ټینګیدو لپاره کوښښ وکړې. او اجازه مه ورکوی چې یو ځل بیا ستاسو په منځ کې دښمنان بې اتفاقي او ګډوډي را منځ ته کړي. د دښمن زهرجن تبلیغات چې په مختلفو ځیرو کې ستاسې او ستاسې د انقلاب په ضد په کار اچول شوي او اچول کیږي بې اغیزې کړې.

مجاهدو او مهاجرو ورونو ! او خویندو !

پدې اختر کې له محرومیتونو څخه مه ځوابدې کیږې، ځکه چې لوی څښتن د دې رنځونو او زحمتونو د زغملو په مقابل کې چې تاسې ته څه دربخښني دې له هغو ځیرونو چې مو له لاسه ورکړې دي. ډیر غوره او ارزښتناک دي. ایا تاسې نه پوهیږې چې د جبارانو غرور مو مات کړ؟ او د ظالمانو

ماہی مو ولړزولي او د شيطاني سترو قدرتونو افساني مو ړنګي کړي. او د هيلو پلوشي مو د مسلمانو محرومو ملتونو په زړونو کي خپري کړي. د دښمن په مقابل کي ستاسي بريالیتوبونه د اسلامي نړۍ او په ځمکه کي د ټولو بيوزلو لپاره د سرلوړي تومنه ده.

هيله من يو چي راتلونکي اخترونه به د اسلام او مسلمانانو لپاره پوره بريالیتوب او موفقيت وي. څښتن تعالی دي د احساس او حق په لار کي له وړانګي زمونږ په زړونو کي د تل لپاره خوندي وساتي.

د کفر او ترګمی په قواؤ باندي د اسلام د پوره بريالیتوب په هيله.

وَالسّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُاللّٰهِوَبَرَكَاتُهُ

برهان الدين رباني[1]

۱۰ ذی الحجة ۱۴۰۱ هـ ق.

۱. د دې پيغام اصلی متن، په فارسي کښي د «پيغام رهبر» نامه په دوهم جلد کې نشر شوی ده.

# د کمکی اختر په مناسبت

میثاق خون؛ پنځم کال، دوهمه شمیره، ماه ثور ۱۳۶۹ هـ ش،

نمبر مسلسل: ۲۸.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

مجاهدو ورونو ! ګرانو مهاجرینو او هیوادوالو !

السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُاللّٰه وَبَرکَاتُه

وبعد:

دوړوکی اختر ویاړلی ورځی تاسو میړنی ولس ته چی له ډیرو اوږدو کلونو راهیسی په مورچل کی ناست یي، دخپل میړنی هیواد نه لیری دهجرت او لیروالی او آوارگی په حال کی ډول- ډول ربړو او ستونزو سره ژوند کوی مبارک او بختور غواړم.

دروژی میاشت دنړی مسلمانانو ته دخدای تعالی له لوری دستر فضیلت او عنایت څرګندو په او ښکارندو په میاشت ده.

دروژی مبارکه میاشت دنور او هدایت دکتاب نزول میاشت ده. هغه کتاب چی لارورکی بشریت ته به دپیړیو پیړیو په اوږدو کی تر قیامت پوری دژغورنی درس اولارښونه کوی، او دخلاصون په لور به هدایت ورکوی.

دروژې میاشت د مسلمانانو دسترو بریالیتوبونو تاریخي کالیزه ده. د بدر[1] او مکې د فتحې[2] ویاړلې کارنامې په همدې میاشت کې تر سره شوې دي. دروژې مبارکه میاشت دستر روحي او معنوي انقلاب میاشت ده، روژه له سرکښو غرایزو څخه انسان ته د تقوی او سپیڅلتوب په لوري تمایل ورکوي. روژه د انساني ضمیر او عواطفو د راویښولو هغه ازانګه ده چې انسان په عملي شکل د بیوسو او بیوزلو خلکو په حال خبر وي.

روژه د صبر او استقامت پېړاندې، مینه او دژوند دربړو په وړاندې زغم دی.

روژه د پټو نفسي غرایزو لاربښوونکې د روح او وجدان پاکونکې میاشت ده. دربښتینو او زغمناکو مبارزینو روښانه

۱. د بدر غزوهٔ؛ د هجرت په دوهم کال د روژې په مبارکه میاشت کې پېښه شوه. د پېښېدو وجه یې داوه چې رسول Y ځینې مسلمانان د قریشو د تجارتي کاروان د پلټنې لپاره ورواستول، کاروان له شام څخه راته او مشر یې ابوسفیان وه. کله چې ابوسفیان د مسلمانانو له هوډ څخه خبرشو. یو کس یې مکې ته ورواستاوه او له قریشو څخه یې د کاروان د ساتنې لپاره مرسته وغوښتله، او د دې لپاره چې د مسلمانانو له لوري څخه غافل ګیره نشي د کاروان لوری یې بدل کړ، نو په دې سره کاروان د بدر له مسلمانانو څخه نجات پیدا کړ، خو د قریشو یوه ډله له مسلمانانو سره د بدر کوهي ته نږدې مخ شول. د قریشو تعداد د ۹۰۰ او ۱۰۰۰ په منځ کې اټکل کېده، او مسلمانان تقریبا ۳۰۰ کسانو ته رسیدل. د دوی په منځ کې سخته نښته وشوه خو په پای کې مسلمانان د ایمان په توان سره لاس بری شول. د قریشو ۷۰ تنه ووژل شول او د مسلمانانو شهیدان ۱۴ تنو ته رسیدل. تاریخ سیاسی اسلام، ۱۱۸ – ۱۱۹: مخونه.

۲. د مکې فتحه په اتم کال دهجرت د روژې په میاشت کې پېښه شوه، وجه یې داوه چې د «حدیبیې د سولې د تړون» پر اساس هرې عربي قبیلې کولای شول په خپله خوښه د رسول اکرم Y په تړون کې برخه واخلي او یا د قریشو په تړون کې، په همدې اساس «بنی بکر» د قریشو په تړون کې شامل شول او د خزاعه قبیلهٔ د رسول اکرم Y په تړون کې شامله شوه. په همدې کال کې د بنی بکر قبیلې د بنیې خزاعه په قبیلې باندې یرغل وکړ او د هغوی ۲۰ تنه یې ووژل. کله چې رسول الله له پېښېنه خبر شو، ډېر غوصه شو او له قریشو سره یې د جګړې لپاره تیاری ونیوه، د مسلمانانو د لښکر تعداد لس زرو کسانو ته رسیده، او پیامبر Y له خپلو لښکرو سره بریالی مکې ته داخل شو. سیرت نبوی (درسها و اندرزها)، ۹۷ – ۹۹: مخونه او تاریخ سیاسی اسلام، ۱۴۳ – ۱۴۶: مخونه.

انځور په خونړیو مجاهدوکی دخپلو لوړو اهدافو ته درسیدو په لاره کی په مادی غوښتنو او غرایزو پوری اړه نلری.

وړوکی اختر چی دمسلمانانو له دووسترو اخترونو څخه ګڼل کیږی او د اسلامی انقلاب له ځانګړتیاوو څخه دی او په عبادی او ټولنیز و ټولو اړخونوکی د تقوی او سپیڅلتوب بنسټ دی.

دا ځکه چی د جاهلی جشنونو په پرتله اسلامی اخترونه له انحرافاتو او ناپاکی نه پاک او دتقوی او سپیڅلتوب مینی او خلوص بیلګه ده. دا اختر په ورځوکی دمسلمانانو خوښی او خوشالی په حقیقت کی دمسلمانانو ترمینځ دورورولی، یووالی او دښه خویونو تینګیښت او پیوستون را ښیی.

مؤمنو ورونو !

دنورو کلونو په نسبت سږنی اختر ډیر مهم تو پیر ونه لری سږنی اختر دپسرلی دموسم او یولړ سترو بریالیتوبونو سره سمون خوری. که څه هم تراوسه زمونږ دهیواد په وینو لړلو پسرلیوکی کوم بدلون ندی راغلی، خو دا اختر او پسرلی له غبرګون سره پرونی وینی څښونکی دښمن نشته، له دننه او بهر څخه دګوزارونو په وجه دهغوی هډوکی مات او نور ژوند ددوام وس نلری.

پدی وروستیو وختونوکی دقدرت او اقتدار پر سر د«خلق او پرچم»[1] دبدنام ګوندونو دوه ډلو ترمینځ خونړی

۱. خلق او پرچم؛ کین اړخی او مارکسیستی ګوندونه دی چې د افغانستان د موکراتیک ګوند دوه څانګې بلل کېدې. د پرچم څانګه «ببرک کارمل» او د خلق څانګه «تَرَه‌کی» رهبری کوله. دې ګوند د «نجیب» د حکومت پرمهال خپل نوم تغییر کړ او د «وطن ګوند» په نامه یادېده، ۷ د ثور بد مرغه کودتا او د شوروي اتحاد وحشیانه یرغل زموږ د مسلمانو او مجاهدو خلکو د کړاوونو او بد مرغیو لامل وګرځېد، له دوه نیم ملیونه څخه د زیاتو مسلمانانو د شهادت، معلولیت او معیوبیت، د بې شمېره بې ګناه کسانو بندیکیدل او د هېواد په ګوټ ګوټ کې یې د زرګونو ډله ییزو قبرونو پېښې له ځان سره لرلې، دا ټول د دې دوه ګوندونو او پلویانو

کودتا وشوه، دی کار د کرملین[۱] مریان سخت په ویره کې کړل. که څه هم دا پیښه زمونږ د ولس لپاره چې د د غولړلو عناصرو څیري یې ښه پیژندلی دی څه نوې خبره نه وه، او نه هم له کمونیست ګوند څخه د بهرنیو فرکسیونو نو ښت ګنل کیږي، خو د پیسې له پیښید و نه وروسته چې له ګوند نه بهر کومه ډله په یاغي فراکسیون پورې ځان ښلوی، او د کمونیست رژیم په داخلي شخړو کې ځان ځایوي دا کار په هماغې ډلې پورې اړه لري چې د ذهني او عملي استعداد د بدلون ښودونکی ده چې قدرت ته د رسید و لپاره هر اغزي او خس ته لاس اچوي.

زمونږ په عقیده د کمونیست حکومت د راپرځولو په عملیه کې او هم پر باطل باندې د حق بریالیتوب کې جهادي ډلو ته دا نه ښایي چې د خپل ټول امید و نه د خلق او پرچم خپل منځي شخړو ته وتړي او په انتظار کې کینې چې څه وخت به د دواړو ډلو ترمینځ ښتـه کیږي او بیا به کمین نیوونکې دې ته منتظر وي چې یاغي ډلې سره ستراتیژیک ایتلاف وکړي او دا ایتلافي او ګډ حکومت تړون ورسره لاسلیک کړي.

د یادولو وړ ده چې مجاهد ځواکونه د خپل بنسټیزو اعلان شویو اصولو ساتلو سره د خلقیانو او پرچمیانو خپل منځي ښتونه د اسلامي انقلاب په ګټه کار واخلي.

هو ! هغه پوځیان او دولتي کارکونکي چې له خپلو

---

جنایتونه بلل کیږي. افغانستان در پنج قرن اخیر، ۹۰۸:مخ او د سایس و جنایات روس در افغانستان نومی کتاب: له امیر دوست محمّد نه تر ببرکه، لیکوال د. نصری حقشناس.

۱. کِرملین؛ روسی اصطلاح ده د ارګ په معنی سره، کرملین په مسکو کې د روسي پاد شاهانو لویه ماڼۍ ده، چې د مسکو د رود کیڼې غاړې ته بنا شوې ده، او د شوروی اتحاد له ړنګید و څخه مخکې د روسي پادشاهانو مرکز وه. د کرملین کلمه د سیاست په ژبه د «حکومت او شوروی مشرانو» لپاره کاریدله او یا هم د «شوروی سیاستونو» لپاره. فرهنګ سیاسی آرش، ۴۴۴:مخ.

ننګینو تیرو پښیمانه شی او د خپلو تیرو جنایتونو د جبران لپاره د خپل مظلوم ولس په وړاندې پښیمانه شي توبه وباسي او په جبرانونکو اعمالو لاس پورې کړي، داسې افراد او ټولنې د غداري له لیکې نه د بیرته راغلیو په توګه عفواووبښو، او د کارنامو او کار په تناسب د هغو قدر کوو او ښه راغلاست ورته وایو.

خو که څوک له هغوی سره ایتلافي اداره جوړوي نو دا زمونږ د ولس په طبع برابر کار نه دی. او د نا روغه مزاجونو کار بیل دی.

بله عظیمه او ستره حادثه چې د روژې په مبارکه میاشت کې وشوه د لرغونې هرات د میړنیو مجاهدینو شهکار او حمّاسه ده، چې په رښتیا کولای شو دغه پیښه د روژې په میاشت کې د مجاهدینو په سترو تاریخي کارنامو کې وشمیرو.

دغه حمّاسه له پوځي او سیاسي لحاظ ډیر اهمیت ورده کړ غیرن رژیم چې د ورستیو سلګیو په حال کې دی او له کودتا نه وروسته اخوا دیخوا لاس اچوي او غواړي وښیي چې مړندې بلکې ژوندې دی او څوروځې نور هم خپل له ننګ نه ډک ژوند ته دوام ورکولای شي.

هغه کوښښ کاوه چې د سیسې به یې په بې خبرو وګړو کې اغیزمنې واقع شي او کولای شي چې یو شمیر غولول شوي کسان د ملي پخلاینې په دام کې ونښلوي، خودي تاریخي حماسې دا د مکر، چل او غولونې طلسم ورمات کړ او دا یې وښوده چې رژیم د تباهي او نابودۍ په لوري روان دی او زمونږ اتل ولس د هغه په غولولو کله هم نه غولیږي، او دغه پخپل وخت ګذار نړیوالو ته وښوده چې دغدار رژیم وخت

مخ په ختمیدو دي روسان به هیڅکله په دې ونه توانیږي چې نور هیوادونه په دې قانع کړي چې د کابل رژیم په طبیعي توګه خپل ژوند ته دوام ورکولای شي.

د هرات[1] تاریخي پیښې یوځل بیا د میړني او اتل هرات د مجاهدینو سیاسي ویښتوب او انقلابي هوښیارتیا وښودله هو د اتل هرات مجاهدینو که له یوې خوا ستر جنایتکاران دوزخ ته ولیږل خو له بله پلوه یې کمونست رژیم ته سخت سیاسي ګذار ورکړ. مونږ پداسي حال کې چې ټول میړني ولس ته د نیکمرغه ورځو کې اختر مبارکي وایو. ټولو هیوادوالو او په تیره بیا د هرات میړني ولس ته د دغې سترې سوبې او بریالیتوب مبارکي وایم.

هیله من یم چې په روان کال کې به دا رنګه نور و شهکاریو هم شاهدان واوسو چې له پوځي او سیاسي پلوه د اسلامي انقلاب په ګټه وي او ترڅو پورې چې د کمونیست رژیم وروستي ځالې هم له مینځه لاړې شي او په لرغوني هیواد کې د الهي عدل حکومت ټینګ شي.

ګرانو هیوادوالو !

سږني اختر ته پداسي حال کې ښه راغلاست وایو چې د روسي یرغلګرانو پوځي ماتې په نړۍ کې ستر بدلونونه رامینځته کړل نو موږ و سترو بدلونونو د اسلامي امت او محکومو ولسونو زړونه را ژوندي او هغوی یې له اندیښنې وژغورل.

مونږ د تیر کال په ورستیو میاشتو کې او د روژې له مبارکې میاشتې نه مخکې میاشتو کې په کمونستي نړۍ

---

۱. هرات؛ د افغانستان په شمال لویدیځ کې موقعیت لري او مرکزي یې د هرات ښار دی، ۵۳، ۵۵۸۲۸ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۱۳۹۱المریز کال کې، د احصاییې د شمېرنو له مخې تقریبا ۱۷۷۲۰۰۰ تنه اټکل شوی دی. جغرافیای عمومي ولایات افغانستان، ۸۹۲-۹۰۷: مخونه.

کی دسترو چاودنو شاهده وه چی اوس هم ددغو بدلونو لړی لادوام لری.

هو ! دافغانستان مؤمنو مجاهدینو دصیام په ښوونځی کی دتقوی پاکوالی او زغم درسونه زده کړی، دسره لښکره طلسم ئی ورمات کړ او د کمونیزم[1] ایدیالوژی ئی په ټوله نړی کی دغنی تار په څیر یو له بل نه ویجاړه کړه.

په افغانستان کی دروسی له ماتی نه وروسته کوم بدلونو نه چی په نړی کی رامینځته شول ټول نړیوال یي هک پک کړل. روسانو پر افغانستان باندی دتیری سره غوښتل چی دعالم اسلام او یو شمیر نورو هیوادونو جغرافیایی پولوته بدلون ورکړی او داسلام دنابودی او له مینځه وړلو لپاره یي ناپاکه اراده لرله. خو لدي ناخبره وو. ددی پرځای چی اسلام او مسلمانانو ته زیان ورسوی خپله کمونیزم دنابودی په لوری روان شو.

په ختیځه اروپا کی دروسیی امپراتوری له مینځه لاړه او دهغوی فرعون ډولی کمونست واکمنان دخپلو ملتونو په واسطه نابود شول او یا دا چی کمونیست ګوندونه او ډلی چی کلونه دخلکو پر اوږو باروو دقدرت له تخت ته نسکور شول.

اوس پدی هیوادونو کی دکمونیزم انسانی ضد ایدیالوژی او کمونیستی ګوندونه درټل شوو ګوندونو په

۱. کمونیزم؛ دا اصطلاح د «کمونیس» لاتیني ریښې څخه اخستل شوي ده. د کومون یا اشتراکي ټولنې اصطلاح د لومړي ځل لپاره په ۱۸۳۹م کال په فرانسه کې وکارول شوه. د دې اصطلاح د پلویانو له نظره ګواکې په دې نظام کې طبقات شتون نلري. کمونیزم انساني شخصیت په اقتصاد او ټولنیزو پولو کې بندي کوي، همدا راز کمونیزم انسان، حقونو او خپلواکیو ته یې له اقتصادی پلوه ګوري، او ګډ مالکیت د خپل نظام لومړنی بنسټ بولي، هغه آزادی چې د انسان طبیعي حق دی هغه محدووده وي. د دې مکتب په هکله ښه قضاوت دادی چې انساني ماهیت له منځه وړي او انسان له خپل بشری درنښت څخه بې پروا کوي، او همدا راز د انسان آبرو او ارزښت کموي. دانشنامۀ سیاسی، ۲۲۱ - ۲۲۳:مخونه او د شهید محمّد کاظم شارقی مقاله، «ارزش خون در کمونیزم و اسلام»، میثاق خون، ۴۴: مخ، ۱۳ شمېره، ۱۳۶۰ لمریز کال.

توګـه پیژنـدل شـوی، نو موږو ملتونو تـه چې په کلونـو کلونو دآزادی وږمی دماغ ته نه وی رسیدلی نو دافغانستان دمیړنی ولس جِهاد نه په الهام سره را پاڅیدل او دکمونیزم دمریتوب ځنځیرونه او دروسیی ناروا واکمنی یې دړی وړی کړه او دتل لپاره یې دارنګه زړه بوږنوونکی حالت پای ته ورساوه.

مؤمنو ورونو !

تاسـو دخپل اسـلامی جِهـاد ارزښـتنا که اغیـزی یو اځی پـه ختیځـی اروپا پـوری تړلی مـه بولـی، بلکی دشـوراګانو دهیـواد په دننه کی چی آزاد انسـانان رابړیدل او همدارنګه په مسـیحی او مسلمانو ایالتونو کی آزادی غوښتونکی پاڅونو نه رامینځته شول او تو پانی څپی په خوخوښت شوی.

دیادولـو وړده چی په روسـیه کـی دبیارغونی او نوښـت مدعی مشـران او همدارنګه په لویدیځ کی دآزادی او انسانی حقوقو مدعیان دروسـیی دننـی بدلونونو په وړاندی یو رنګ عکس العمل نه درلوده.

لـه هغـه ځایـه چـی پـه اسـلامی محکومـو جمهوریتونو (آذربایجـان[۱]، تاجیکسـتان.[۲]) کـی دآزادی غوښـتنی پاڅون پیـل کیـږی نوګوربا چـوف هـم پـه لویدیځـو مطبوعاتـو کـی

۱. آذربایجان؛ هغه هېواد دی چې د اروپا او شمال لودیځ آسیا په لاره او د خزر د رود په څنډه کې موقعیت لري. ۸۶۶۰۰ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۹۰۶۲۰۰۰ اټکل شوي ده. رسمي ژبه یې «ترکی آذربایجانی» او زیاتره وګړي یې مسلمان دي. د پیسو واحد یې «د آزر بایجان نوی منان» او پایتخت یې د «باکو» ښار دی. اطلس جامع گیتاشناسی، ۹۲: مخ.

۲. تاجیکستان؛ هغه هېواد ده چې په منځنۍ آسیا کې موقیعت لري. ۱۴۳۱۰۰ کیلومتره مربع مساحت لري او نفوس یې د ۲۰۱۰م کال د شمېرنو له مخې، تقریبا ۷۰۷۵۰۰۰ تنه اټکل شوي دی. رسمي ژبه یې تاجیکي، د پیسو واحد یې سامانی او پایتخت یې د «دوشنبه» ښار دي. د دې هېواد له ۹۰٪ څخه زیات خلک مسلمانان دی. اطلس جامع گیتاشناسی، ۱۰۱: مخ.

دګلاسنوست[۱] او پروسترایکا[۲] تر عنوانونو لاندي مطرح او ستایل کیږي او په دروا غو د سولې نقاب وراغوستل کیږي.

خوده خپل نقاب یوې خواته واچوه او دانسان وژنې په پوځي پالیسي سره یې نوموړو سیموته زغره وال ټانکونه واستول او دهغه ځای ماشومان ښځې او آزرې مظاهره کوونکي په وینو لت پت کړل. په مسیحي لویدیځ کې (چې په تزویر او چل ول سره د سولې او دانساني حقوقو دآزادۍ ناري سورې وهي) ددې پرځای چې داوحشیانه عمل وغندي نو دهغه ځای سیاستمداران کشیشان او کاهنان دانا جیلو او پخواني کتابونو په استناد دګورباچف[۳] دغه وحشي عمل ته دمشروعیت اوروا توب فتوې ورکوې او ددې جنایت او فجور لپاره دلایل راوړي.

خو کله چې په «لیتوانیا»[٤] کې دخپلواکۍ غوښتنې چټک

---

۱. ګلاسنوست؛ روسي اصطلاح ده، د لهجې د صراحت په معنی سره(Openness) چې په سیاسي عرف کې د «خلاصې سیاسي فضاء» او «د موکراتیک کولو لړې» د سوسیالیزم په شرقي بلوک باندې اطلاق کیږي. نوموړې اصطلاح د ګورباچُف له رهبري سره ځانګړې شهرت وموند. ګلاسنوست او پروسترویکا دوه هغه اصطلاح ګاني وې چې د شوروي اتحاد لیډرانو د هغو په چوکاټ کې خپل سیاستونه کارول. فرهنګ سیاسی آرش، ۴۹۸ مخ.

۲. پروسترایکار؛ روسي اصطلاح ده، دا اصطلاح په انګلسي کې په بیا ودانولو باندې ژباړل شوې ده. د شوروي اتحاد په معاصر تاریخ کې نوموړې اصطلاح د ګورباچُف په رهبر سره د ټولنې او افکارو په بیا ودانولو باندې اطلاق کیږي. سازمان‌های بین‌المللی و نظریه‌های روابط بین‌الملل، ۲۵۴ مخ.

۳. میخائیل ګورباچُف؛ د مارچ په ۲ نیټه په ۱۹۳۱م کال کې د «پریولنویه» په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانستېدې. په روسیه کې لړګرانښت لرې، په دوه دلایلو لومړی داچې د شوروي اتحاد د ړنګېدو لامل یې بولې او دوهم دهغو اقتصادي ستونزو لامل ګڼل کیږي چې له ړنګېدو وروسته راپیدا شوې. هغه د شوروي اتحاد وروستی رهبر وه او س مهال یعنې ۱۳۹۵ کاله پورې ژوندی دی، او په مسکو پلازمېنه کې ژوند کوي. محمّدعلي عمويي، «خیانت به سوسیالیسم - پس پرده فروپاشي اتحاد شوروی»، روجرکیران - توماس کنی.

۴. جمهوري لیتوانی؛ هغه هېواد ده چې د اروپا په ختیځ کې موقعیت لري. ۶۵۳۰۱ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۳۲۹۷۰۰۰ تنه اټکل شوي دی. رسمي ژبه یې لیتوانیایي ده، پایتخت یې د «ویلنیوس» ښار او د پیسو

خوځښت را مینځته کیږي او حتی د روسي ارضي تمامیت هم ترګواښ لاندې نیسي نو ګورباچف نه یوائې دا چې هلته زغره وال تانکونه نه لیږي؛ بلکې په آرام او وړین تندي هغه مسیحي میشته بالتیک جمهوریت ته ځي، او آزادي غوښتونکي په مسکه خوله پخپل غیږکې نیسي او د هغه جمهوریت د ستونځو د حل لپاره د مناسب لارې چارې غوره کولو وعده ورکوي پداسې حال کې چې د آذربایجان مشرانو به د ګورباچف د لیدلو لپاره په اونیو او نیو انتظار ایسته ترڅو د هغه جمهوریتونو ستونځې د هغه غوږونو ته ورسوي خو هغوی نه یوائې دا چې له مسکو نه وشړل شول؛ بلکه د توپونو په ډزو او د ټانکونو په تیریو یې ځواب کړل.

هو ! د دوی ګناه دا وه چې دوی مسلمان او د لیتوانیا او سیدونکي مسیحیان دي، خو کله چې ګورباچف لدې ویرې نه چې نورو جمهوریتونو ته د بالتیک هیوادونو د آزادي ګونګسي ونه رسیږي نو خو زغره وال ټانکونه یې لیتوانیا ته ولیږل، تانکونه یوائې په سړکونو کې په ګزمه شول او دځینو مرکزونو څارنه یې وکړه بې لدینه چې کوم پوځي عمل ترسره کړي. لوید یځ نړۍ ددې عمل په وړاندې ګوته ونیوله او روسیې ته یې خبردار ورکړ چې که دیوه لیتوانیایي وینښته ولویږي غرب لیدونکي نشي پاتې کیدای.

خو لدې ګواښه روسان نه اندېښمن کیږي او نه هم غربیان د روسانو دا عمل د روسیې د نني ربړه ګڼي.

پدې ورستیو وختونوکې چې د روسانو له آزادي غوښتونکو خوځښتونو نه دویرې احساس وکړنو تکل یې وکړ چې د طبیعي ګاز او سوځیدو موادو بندیدو سره به د لیتوانیا په اوسیدونکو فشار راوړي چې دخپل بیلتون

---

واحد یې «لیتاس» دی. اطلس جامع گیتاشناسی، ۱۰۹: مخ.

غوښتونکی خوځښت او حرکت څخه لاس واخلی. خو سپینه ماڼی د روسیی دا عمل په تینګه غندی او څرګندوی که روسان خپل عمل ته دوام ورکړی نو امریکا به په مناسب اقدام لاس پوری کړی. او دا لاڅه چی یو شمیر اروپایی هیوادونه لیتوانیا ته وړاندیزونه کوی.

هیواد واله وروره!

پرون مو چی په لویدیځو هیوادونو کی د نژادی تبعیض په هکله خبری کولی چی هغوی د تورو او سپینو په مینځ کی فرق کاوه نو دا اوس هم غربی مادی تمدن د مذهبی تبعیض په هکله ناوړه دریځ نیول کیږی، پداسی حال کی چی غرب مذهب سره وداع کړی. او په ټولنیز ژوندانه کی یی دینی لارښوونی تر پښو لاندی کړی. خو بیا هم د روسیی د مسیحی او مسلمان سیمو ترمینځه په بیل بیل ډول دریځ نیول کیږی.

هو! دا یواځی ګران اسلام دی چی انسانی کرامت یی لایتغیر اصل اعلان کړی دی، او د تور او سپین ترمینځ فرق نکوی، قرآن کریم فرمایی:

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ..﴾[1]

د مذاهبو او ادیانو داختلاف له کبله انسانی حقوق بدلون نه مومی، په اسلامی حکومتونو کی د انسانی حقوقو په اړه، دیهودی مسیحی، او مسلمان ترمینځ هیڅ ډول توپیر نشته.

حضرت پیغمبر Y فرمایلی:

﴿من أذی ذمیا فقد أذانی﴾

او:

۱. إسرا / ۷۰. ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً﴾ (او په رښتیا چې مونږ بني آدم ډیر عزت من کړی، په وچه او لمده کې مو هغه ته سپرلۍ ورکړی، له پاکو څیزونو نه مو هغه ته روزي ورکړي او په خپلو ډیرو مخلوقاتو مو هغه ته ډیر زیات غوره والی ورښلی دی.)

﴿فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالْحَرْبِ﴾[۱]

(څوک چې يو ذمي [په اسلامي هيوادونو کې چې د نورو اديانو مسيحي يا يهودي لارويان واوسي ذمي ورته ويل کيږي] ته زيان ورسوي لکه چې ما ته يې زيان رسولی دی او يا که څوک ذمي وځوروي، زه د هغه په وړاندې د جګړې اعلام کوم.)

ګرانو ورونو!

زمونږ د اسلامي جِهاد يو اځيني نړيواله اغيزه دا نه ده چې په کمونيستي نړۍ کې ئې بدلونونه رامينځته کړل؛ بلکې په اسلامي نړۍ کې هم ستر بدلونونه راغلل چې په ځينو خوځښتونو کې مونږ د خپل جهاد برکت اغيزې سر په سترګو ګورو.

مونږ د فلسطين[۲] د نهضت په حالاتو شاهدان وو، هغه وخت يې چې د اسلام په نامه جهاد پيل کړ نو په نړۍ کې د مقاومت د ستر ځواک په توګه و پيژندل شو، خو کله چې د نهضت د اسلام له لارې کوږ شو نو خوار او ذليله شو ل خو کله چې د فلسطين ځوان نسل د افغانستان د جهاد نه اغيزمند يد لو سره نوی جهادی هلې ځلې پيلې کړې نو د نړۍ جباران يې ولړزول او تاسې ټول پوهيږئ د فلسطين نوی او ځوان نسل

۱. سره له دې چې دا او نومورې حديث به همدې الفاظو سره ځينو محدثينو ضعيف او ځينو نورو بيا موضوعي ښودلی، اما آيات او د دين روح دا احاديث تأئيدوي. د زياتو معلوماتو لپاره دی وکتل شي: فتح الباری شرح صحيح البخاری، باب إثم من قتل ذمياً بغيرِ حق او شُعب الإيمان د بيهقی.

۲. فلسطين؛ دَ شام يوه برخه ده چې د مديترانې د رود په ختيځه څنډه کې موقعيت لري او د آسيا، اروپا او افريقا لويې وچې سره نښلوي. ۲۲۲۳ کيلومتر مربع مساحت لري او نفوس يې په ۲۰۱۰م کال کې، تقريبا ۴۳۴۲۰۰۰ تنه اټکل شوی دی. رسمي ژبه يې عربی، پلازمينه يې قدس او د پيسو واحد نلري. بَيْتُ الْمَقْدِس؛ يا د مسلمانانو لومړی قبله چې د رسول اکرم Y د اسرارو ځای هم په فلسطين کې موقعيت لري. لغتنامهٔ دهخدا او اطلس جامع گيتاشناسی، ۱۰۲: مخ.

د الله اکبر په وسله د اسرائیلو د زبرځواکو پوځی قواو په مقابل کی د جهاد لاس پوری کړی او د الله اکبر په ویلو چی هره ډېره پر اسرائیلو عسکرو واوروی نو د هغوی په زړونو کی در اکت او هاوان په څیر ویره پیدا کوی.

هیله من یم چی دا پاڅون د فلسطین د آزادی لاره خلاصه کړی که څه هم اسرائیلی استبداده د خلاصون لاره موندلی ده.

ګرانو ورونو !

ددی پاڅون سترتوب او عَظَمت ددی ځایه معلومیږی چی د ختیځ جباران یی ولړزول او نیول شوی فلسطین ته یی د روسی یهودیانو په لیږلو پیل وکړ. آیا فلسطینی آزادی غوښتونکو کومه منظمه اردو درلود له چی نن روسان د غربیانو سره لاس په لاس شوی او د فلسطین د ځوانانو راپاڅیدلی نسل د خپلو لپاره نوی لښکری لیږی. هو ! دا لیږل شوی یهودیان په کلونو کلونو د کاجی بی په سړی خوره دستګاه د انسان وژنی په فن کی روزل شوی چی د فلسطین د ځوان نسل نهضت وټکوی. د افغانستان ولس د روژی اسلامی ورورولی له امله دا د سیسی (په دیریاسین حیفا او یافاکی دوینو لرلو پیښو غوندی) په کلکه غندی او جګړه غوښتونکو ته اعلانوی چی لدی زیات بشریت نور په وینو مه لت پتوی، او که بله جګړه پیل شی نو تاسی او ریلونکی به هم په امنیت کی پاتی نشی.

همدارنګه ناخبره یهودیانو ته چی جګړی ته راوستل کیږی د حضرت پیغمبر Y د حدیث:

(په آخره زمانه کی به له هره ځایه صهیونست یهودیان فلسطین ته راټول شی او د تباهی وخت به یي راورسیږی او له هره ځایه پرهغوی برید ونه وشی او هیڅ ځای به ورته پناه نه ورکوی خو یو یوه مخصوصه ونه که د دبری لاندی پټ شي دبره

به چیغې وهي چې دا دی یهودي ويې وژنئ)[۱]
پر اساس د الهي عذاب یادونه کوو.

مونږ د یهودیانو سره څه خبره نلرو چې کنې هغوی یهودي نژاده او د یهودي دین لارویان دي. خو هغوی چې د اسلام سره دښمني لري او د صهیونستي مسلک پر اساس هرځای کې د جګړې اوربلوي نو ځکه د خپلو جنایتونو ناوړه عواقب به زغمي.

نړیوال دسیسه اچونکي چې په ظاهره د ذروی او وژونکو وسلو د کمښت ناري سوري وهي او مدعیان دي چې باید په نړیوالو اړیکو کې شخړې او ربړې کمې شي نو دوی ته نه ښايي چې د مختلفو ادیانو د پیروانو ترمینځه د جګړې بلولو زمینه برابره کړي.

دوی باید له تیر وخته عبرت واخلي. هرڅومره چې مسلمانان وځوریږي هومره زغمنا که او صابر روزل کیږي او د یهودیانو پروړاندې په میړانه راپاڅیږي د ننیو اسلامي خوځښتونو توپاني څپې چې ټولې نړۍ ته رسیدلي په حقیقت کې له همدغو ربړونو او ځورونو راټوکیدلي دي که دوی له ځانه سره دا سې انګیرلي وي چې دلس ګونو زرو یهودیانو په لیرلو سره به هلته د بشري قواوو موازنه د یهودو په ګټه تمامه شي خو پدې محاسبه کې دوی سخت تیروتي ځکه فلسطین په اسلامي نړۍ کې یو عادي هیواد ندی، فلسطین د مسلمانانو د محبوب پیغمبر د معراج هیواد او لومړنی قبله (بیت المقدس) یي هلته واقع ده. او څه د پاسه یو میلیارد

---

۱. د حدیث شریف متن دادی: ﴿لَا تَقُومُ السّاعَةُ حَتّی یُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْیَهُودَ فَیَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتّی یَخْتَبِئَ الْیَهُودِیُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشّجَرِ فَیَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشّجَرُ یَا مُسْلِمُ یَا عَبْدَ اللّٰهِ هَذَا یَهُودِیٌّ خَلْفِی فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ. إِلاّ الْغَرْقَدَ فَإِنّهُ مِنْ شَجَرِ الْیَهُودِ﴾.
صحیح مسلم، د حدیث شمیره: **۷۵۲۳**.

مسلمانان که پدي وپوهيږي چې فلسطين د تل لپاره د يهودو په منگولو کی لويږی نو د دی مقدسي ځمکي د آزادی او دفاع لپاره به له هرځايه راغونډ شي. نو ځکه زه د مجاهد ملت په ترجماني له ټولو هيوادونو چې د سولي، آزادی او انسانی حقوقو پلويان دی غواړم چې د دی اوربلونکي د سيسو مخه ونيسي او ولسونه پخپله پريږدی چې په سولی او يو له بله سره د همکاري په فضا کي گډ ژوند وکړی.

گرانو ورونو !

زمونږ د جهاد اغيزی نه يوازې پر ميړنيو فلسطينيانو پريوتي او اسلامی پاڅون يی پيل کړ، بلکي د کشمير پر با فرهنگه ملت (زمونږ ملت د کشمير سره ژوري اړيکي لری، دوی د هندوانو له ظلم نه د خلاصون په هود راپاڅيدل خونړی دهغوی د حق پاڅون په هکله چو په خوله نيولي) اغيزی غورځولي او بيا يي پرتمين پاڅون پيل کړي چې يي له شکه دي پاڅون د افغانستان د اسلامي ولس له جهاد نه الهام اخيستي، هغه ملت چي کشميري شاعر او د شرق شاعر علامه اقبال[1] يي په ستاينه کي داسی وايي:

سرزمينی کبک او شاهين مزاج
آهوی او گيرد از شيران خـراج

۱. علّامه محمّد اقبال لاهوری په ۱۲۵۲ لمريز کال، د عقرب په ۱۸ نيټه د «سيالکوت» په ښار کوټي «پنجاب» منطقه کي سترگې نړۍ ته پرانيستي. په لاهور کې يې تحصيلات تر سره کړل او وروسته يې په کمبريج او مونيخ کې د فلسفې او حقوقو په مطالعه بوخت شو. وروسته لاهور ته راستون شو او د وکالت په دندې بوخت شو. اقبال په دې باور دی چې د قرآن روح له يونانيي زده کړو سره اړخ نلگوي. د اقبال هڅونه ديته چې اسلام سياست ته را وگرځي، د غربی تمدن، فرهنگي او علمي لاسته راوړنو سره يې مخالفت هغه موضوعات دی چې د اسلام پوهانو ترمنځ د مخالفت او پاملرنې وړ گرځېدلي دي. اقبال د ۱۳۱۷ لمريز کال د ثور د مياشتې په لومړۍ نېټه له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه، اسرار خودی، رموز بيخودی، پيام مشرق، زيور عجم، جاويدنامه، پس چه بايد کرد؟، ارمغان حجاز، احيای فکر دينی در اسلام و.. د اقبال له آثارو څخه دي. گزيدۀ شعرهای اقبال لاهوری، ۱۲ – ۵۹: مخونه.

آسیا یک پیکر آب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از کشاد او کشاد آسیا
از فساد او فساد آسیا[۱]

***

نو د اقبال هیوادوالو د آسیا له زړه او بت ماتونکي محمود له لرې نه د پاخون درس زده کړي د نو د سومناتو نو د ماتولو او دړې وړې کولو تکل یې کړیدي او د هندویزم د استبدادي ځنځیرونو د شلولو په هوډ راپاڅیدلي.

که څه هم د هند حکومت د کشمیریانو د پاخون د خپلو لپاره له هر وحشیانه عمل نه لاس ندي اخیستی خو ددې پاخون له مینځه وړل دومره آسان کار ندي، ځکه هغوی چې د شهادت مرګ د اسارت له ژوند ه غوره ګڼي نو د زورزیاتي، ربړوني او وژنې نه ویریږي.

د کشمیر[۲] ولس حق لري چې آزاد او خپلواکه ژوند وکړي، ځکه چې دا مسلمان ولس د هند سره هیڅ ډول عرفی، تاریخی او مذهبی پیوند نلري له انګلیسانو نه د هند[۳] د آزادی

---

۱. کلیّات علامه اقبال لاهوری، جاوید نامه.

۲. کشمیر؛ د شبه‌جزیرهٔ هند په شمال لویځ برخه کې پرته یوه سیمه ده، چې د جامو کشمیر ایالت د هند تر ولکې لاندې، ګلګته او آزاد کشمیر ایالت د پاکستان تر ولکې لاندې او اقصای چین منطقه د جمهوری خلق چین تر ولکې لاندې څخه جوړه شوې ده. دا سیمه زیاتره غرني سیمه ده، د قراقروم غرونه او اسکه د کی۲ غونډی چې د ځمکې پرمخ دوهمه اسکه غونډي بلل کېږي هم په دې سیمه کې شتون لري. کشمیر د فارسي ژبې یوه اصلي حوزه هم بلل کېږي. ریاض، محمّد ، ادبیات فارسی در شبه قارهٔ هند و پاکستان، د «هنر او مردم» مجله، ۱۳۵۴ کال د لړم میاشت– ګڼه: ۱۵۷ ، (۶۲ تر ۷۲ مخونه).

۳. هند یا هندوستان؛ یو داسې هېواد ده چې د آسیا د لویېڅ وچې په جبوب سیمه کې شتون لری. ۳۱۲۵۵۹۲ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۱۱۷۳۱۰۸۰۰۰ تنه اټکل شوي دی، چې له چین څخه وروسته د نړی په کچه دوهم لوی هېواد ګڼل کېږي. رسمي ژبه یې هندی او انګلیسی ده، د پیسو واحد یې هندې

سره جوخت د کشمیر ولس د پاکستان[1] د خلکو سره یوځای د خپلواکۍ او ارضی تمامیت غوښتونکی شول، او پدې لاره کې یې له هیڅ دول سربښندنو غاړه و نغزوله. ملګرو ملتونو د کشمیر د ربړې په هکله پریکړه وکړه چې د کشمیر له خلکو دې پوښتنه وشي، هغوی حق لري چې آزادو او سیږي، پاکستان سره یوځای کیږي او یا هند سره کلونه له دې پریکړې تیریږي خو د کشمیر خلکو ته دا فرصت پیدا نشو چې د خپل برخلیک د ټاکلو په هکله خپل نظر څرګند کړي. او س دا مظلوم ولس د همدې پریکړې له تطبیقه پرته بل څه نه غواړي.

دا څه علت دی چی د پریکړې لاس لیک کونکی هیوادونه چوپه خوله ناست دی؟ په خواشینی سره وایو چی ځینی هیوادونه د کشمیر او د ملګرو ملتونو د یر بکړې د لاس لیک کونکی هیواد په توګه د هند ترڅنګه ولاړ دی او د کشمیر د مظلوم ولس پرضد یې دریغ نیولي دي.

د دریمی نړی هیوادونو او حتی یو شمیر هیوادونو د کشمیر د پاڅون په هکله کاڼه غوږونه نیولی البته د ایران[2]

---

روپیۀ او پایتخت یې نوي دهلی دی. هند د بېلابېلو ادیانو او فرقو استوګنځای دی، هند ته د اسلام راتګ د لومړي قمري پېړ سې څخه پیلېږي. د سلطان محمود غزنوي په دوران کې پنجاب تصرف شو، او د ګورګانیان د حکومت په دوران کې هند ستر قدرت پیدا کړ. اطلس جامع گیتاشناسی، ۱۱۲مخ.

۱. پاکستان؛ د آسیا د لویې وچې په جنوب لودیځ موقعیت لري. ۷۹۶۰۹۵ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۱۸۴۴۰۵۰۰۰ تنه اټکل شوي دی. رسمي ژبه یې اردو او انګلیسی ده، پلازمېنه یې د «اسلام‌آباد» ښار دی، د پیسو واحد یې پاکستانی روپیه دی. اطلس جامع گیتاشناسی، ۱۰۰مخ. پاکستان؛ د آسیا د لویې وچې په جنوب لودیځ موقعیت لري. ۷۹۶۰۹۵ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۱۸۴۴۰۵۰۰۰ تنه اټکل شوي دی. رسمي ژبه یې اردو او انګلیسی ده، پلازمېنه یې د «اسلام‌آباد» ښار دی، د پیسو واحد یې پاکستانی روپیه دی. اطلس جامع گیتاشناسی، ۱۰۰مخ.

۲. ایران؛ د آسیا په جنوب لویځ کې موقعیت لري. ۱۶۴۸۱۹۵ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۷۳۸۸۷۰۰۰ تنه اټکل شوي دی. پلازمینه یې د تهران ښار دی، د پیسو واحد یې «ایراني ریال» دی. رسمي دین یې اسلام او

اسلامي جمهوریت غوښ او پریکنده دریځ او د سعودي عربستان[1] دهیواد ملاتړ دستاینې وړدي. که دکشمیر دمسئلې په هکله اسلامي هیوادونه روښانه او غوښ دریځ ونیسي نو هندوستان ته لدې پرته بله لاره نشته چې دکشمیر دخلکو دخودارادیت پرحق باندې اعتراف وکړي.

خوله بده مرغه هند ددې پرځای چې واقعیتونو ته تسلیم شي په بې حده ظلم او وژنو یې لاس پورې کړي او پاکستان ته یې دجګړې ګواښ کړیدي. خو هندوستان دې پدې پوه شي چې جګړه دهیڅ کوم ملک په ګټه نده او که په سیمه کې دجګړې اوربل شي، نو هندوستان ته به یې زیات زیان ورسیږي دهند دننني اردورونه، ویجاړ اقتصاد سرترسره فقر او سستي ددې پیښې ښوونکې ده نو هند ته دا غوره ده چې غیر واقعبینانه او جګړه مار سیاست یوې خواته کړي او کشمیري ورونو ته دخپل برخلیک دټاکلو حق ورکړي او پدې توګه دسیمه ایزې همکارۍ او سولې زمینه برابره کړي نو ددې پرځای چې کومې پیښې په پوځې سمبالښت او په سیمه دزبرځواکې پرپیښو کولو لګوې باید دفقر په مینځه وړلو ولګوي.

دفلسطین داتل ولس اسلامي پاڅون زمونږ دمیړنی ملت دجهاد له سمدلاسي اغیزودی.

هو ! په وروستیو کلونو کې چې دفلسطین دآزادی غوښتونکې سازمان ځینې مشرانو چې له اسلامي سیاسي لارې کاره شول او دتسلیمي پالیسي یې غوره کړه نو

---

رسمي ژبه یې فارسي ده. اطلس جامع گیتاشناسی، ۹۹:ص.

۱. د سعودي عربستان پادشاهی دولت د آسیا په لودیځ کې موقعیت لري. ۲۲۴۰۰۰۰ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۲۰۱۰م کال کې، تقریبا ۲۵۷۳۲۰۰۰ تنه اټکل شوي دی. رسمي ژبه یې عربي، او رسمي دین یې اسلام دی، د پیسو واحد یې سعودي ریال دی، پلازمینه یې د ریاض ښار دی. مهم ښارونه یې عبارت دي له مکهٔ مکرمه - چې مسجد الحرام پکښې موقعیت لري او د رسول اکرم د پیدا ېښت ځای دی، مدینه منوره او جده. اطلس جامع گیتاشناسی، ۱۰۵مخ.

فلسطینیانو په ډیری نا امیدی سره اخوا او دیخوا لاسونه اچول ځینی دلی یې د سوسیالیزم[۱] او ځینی یې د سکولریزم[۲] او ځینی د عربی نیشنلزم په دام کی پریوتی او پدی توګه فلسطینیانو د اسرائیلو غاصب حکومت په مقابل کی له خند اچولو پرته نور څه ندی.

عربیت (بی له اسلامه) جاهلیت دی، څه ښکلی ویلی فاروق اعظم «العرب جازه الإسلام» هو ! مسلمان عربی د مسلمانانو دځواک ښکارندوی دی خو اسلام ته شا کول او جاهلیت ته مخه کول یې د اعرابو او مسلمانانو تباهی وه.

پدی هکله حضرت عمر ~ وایی:

﴿إِنَّمَا تُنْقَضُ عُرَى الإِسْلامِ عُرْوَةً عُرْوَةً، إِذَا نَشَأَ فِي الإِسْلامِ مَنْ لَم يَعْرِفُ الْجَاهِلِيّةَ﴾[۳]

(بند په بند به د اسلام ملا هغوي ماته کړی چې په اسلامی

---

۱. سوسیالیسم؛ دا اصطلاح په بېلابېلو مکتبونو کې په خپلواک ډول ولي د هم مثله شرایطو او وضعیت په ترڅ کې رامنځ ته شوې ده. سوسیالیسم په انګلستان او فرانسه کې، د ۱۹ پېړۍ په دوهمه ربعه کې د صنعتي انقلاب په پایله کې را منځ ته شو. او د سوسیالیسم د ماهیت په هکله شاید واحد او اجماعي تعریف ته ونرسېږو. فرهنګ سیاسی آرش: ۳۴۹:ص او فرهنګ واژه‌ها ، ۳۴۲ :ص.

۲. سکولاریزم؛ دا سې باور دی چې حکومت او حکومت کونکي له مذهبي کار کونکو او بنسټونو څخه جلا انګېري، له کوم ځایه چې د سکولاریزم اصطلاح په بېلابېلو ځایونو کې استعمالېږي نو دقیقه معنی یې تر ګټه اخستو پورې اړه لري. په حکومتي چارو کې د سکولاریزم استعمال په دی معنی دی چې مذهبي باورونه باید په حکومتي چارو کې دخالت ونکړي. په ټولنپېژنده کې سکولاریزم په دې معنی دی چې په ټولنیزو چارو کې مذهب لږ دخالت ولري. د سکولار کلمه په لاتیني ژبه کې د «دې نړۍ ته مخه کول» ، «دنیوی» ، او له «دیانت» یا «روحانیت» سره تضاد لري او په عربي کې په علمانیت سره ژباړل شوی دی؛ ځکه که چېرې په اصلي معنی سره ژباړل شوی وای غبرګونونه یې را پارول. فرهنګ واژه‌ها ، ۳۲۷مخ، او التطرف العلمانی فی مواجهة الإسلام، د دکتور یوسف قرضاوی.

۳. داه خبره په همدې الفاظو سره د ابن تیمیه په اثارو کې حضرت عمر ته منسوب شوې ده. اما ددې اثر معنی کولای شئ په لاندې منابعو کې وموندئ: المستدرک عن الحاکم، ۴ټوک، ۴۷۵ مخ، شُعب‌الإیمان عن البیهقی، ۱۰ ټوک، ۲۸مخ، المصنف عن ابن أبی شیبة، ۶ټوک، ۴۱۰مخ، الطبقات عن ابن سعد ، ۶ټوک، ۱۲۹ مخ و الحلیة عن أبونعیم، ۷ټوک، ۲۴۳مخ.

ټولنه کې زیږېدلې وي، خو جاهلیت یې نه وي پیژندلی.)

اوس د زبر ځواکو او نړیوالو زورورو د واکمنۍ وخت تیر شوی اوس کوچنی ولسونه چې د عقیدې او ایمان او ایدیولوژۍ په وسله سمبال دي، د وحدت او یو والي په صورت کې کولای شي چې د خپلې عقیدې پر بنسټ د استقلال او ارضي تمامیت خوندي ساتلو لپاره هوډ ونیسي او د تیري کوونکو سترو ځواکونو په مقابل کې ودریږي، نو ځکه هندوستان باید دا باطل خیال له خپل ذهن نه لیرې کړي او د پراختیا غوښتنې او جګړې ماري له سیاست څخه ځان وژغوري.

او که هندوستان په پاکستان تیري وکړي نو پاکستان په هندوستان په وړاندې یوازې پاتې نشي، مسلمان هیوادونه او د هغه په سرلیک کې د افغانستان میړنی اولس به هغه یواځې پرینږدي.

د افغانستان مجاهد ولس د ملګرو ملتونو د پریکړو له مخې د کشمیر د خلکو له روا حقوقو څخه ملاتړ کوي که څه هم د وړوکي اختر په رارسیدو سره د کشمیر وګړي په وینو کې لامبو وهي او د خپلو افغاني ورونو په څیر د اختر له خوشالۍ بې برخې دي دوی هم د دغه په وینې لړلي اختر ته ښه راغلاست وايي.

خو مونږ ډاډه یو چې د کشمیر ستر ولس به پدې حقیقت پوه شوی وي چې د آزادۍ با ارزښته مرغلره یواځې د وینو په بیه اخیستل کیدای شي، هیلمن یم چې د کشمیر د ولس راتلونکي اخترونه به د خپلواکۍ او آزادۍ سره یوځای وي.

ګرانو هیوادوالو!

پداسې حال کې چې زمونږ د جهاد حماسو په نړۍ کې

ستر بدلونو نه رامینځته کړل او سربیره پردی د کریملین مزدورانو او ښکیلاکګرو روسانو دلاسوهنو له امله زمونږ دولس پسرلی او اخترونه په وینو لړل شوی دی او سږکال چی الحمدلله دبریالیتوب په سباوون او ستری فتحی په درشل کی یو او ډیر زر به د توحید ویاړلی بیرغ دهیواد په غرو رغونو کی ورپیږی سربیره پردی چی زمونږ دولس بدمرغی پای ته نده رسیدلی، روسانو زمونږ په هیواد او نړی کي خپلی شرمیدلی ماتی نه دعبرت درس ندی اخیستی، د روسانو یرغل او تیری دوژونکو وسلو درالیږلو له لاری دوام لری او له خپلو مزدورو او پلیدو عناصرونه بیشرمانه ملاتړ کوی، پداسی حال کی چی پوهیږی دغه مزدور عناصر دخپل ژوند وروستی ورځی تیروی او له بله پلوه په دسیسو او پلمو سره زمونږ د سرنوشت دټاکلو حق نفی کوی ځینو هیوادونو مخکی چی دافغانستان دولس ملاتړ کوونکو په بڼه چیغی وهلی نو په مستقیم او غیر مستقیمه توګه دا پیښه نوره هم اوږدوی. ټولو ته دا حقیقت څرګند شویدی چی مزدور رژیم زمونږ دولس په مینځ کی د پښو ځای نلری چی د خلق دمنحط ګوند ستری ډلی هم ددغه رژیم دنسکوریدو غوښتونکی دی.

ګرانو هیوادوالو !

پدی ټکی ټول ښه پوهیږی چی د جګړی او شخړی په ترخ کی د قدرت دانتقال د پروسی لپاره رایو ته رجوع کول او د پراخ بنسټه شوری جوړول څه ساده او آسانه کار ندی او څومره پلمی نه وی چی د مجاهدینو حکومت دمخنیوی لپاره رامینځته شوی، کله به پراخ بنسټه حکومت مطرح کیده، کله به بي طرفه حکومت او اوس د ستونځو د حل لپاره انتخابات او د خلق ګوند دځینو غړو سره د ګډون له لیاری دایتلافی

حکومت جوړول دي.

د افغانستان اسلامي جمعیت چې د هیواد د برخلیک په ټاکلو کې د ټولو وګړو او قشرونو په ګډون د شورۍ له اصل نه خپل ملاتړ اعلانوي، او عقیده لري چې د وسلوال انقلاب په اوږدو کې چې تر اوسه پورې د ټاکنو، ټوپونو غرار او ډزې چپ شوې ندي، اولا تر اوسه امنیت او آرامي مینځته نده راغلې او د روس د سرې وژنې ماشین په افغانستان کې له کاره ندی لویدلی نو د عمومي انتخاباتو تر سره کول څه آسانه کار ندی.

خو لدې کبله چې په یو ډول نه یو ډول خلکو ته د خپل برخلیک په ټاکلو کې زمینه برابره شي مونږ د انتخاباتو له پروژې څخه په محدودو رای ورکونکو چې په حقیقت کې هغوی ممثل او وینډوی د قومندانانو، علماو او د تیر مشرانو دي ملاتړ موکړیدی. او که چیرې د غه مجموعه په ځینې ځایونو کې د عمومي انتخاباتو کیدل ممکن تشخیص کړي کولای شي له مطلوبې او ممکنې لارې خپل نمایندګان تعیین او انتخاب کړي د دا ډول انتخاباتو د منلو علت د ولس د ګټو تأمین او د اوسني رکود ماتول او مینځه وړل دي.

همدا راز د لته ځینې ربړې وجود لري او هغه نشتوالی د موازینې او تعادل دی په مینځ د انتخاباتي حلقوکې، په تیرشوي دوران کې د ولایاتو او ولسوالیو تقسیم بندي غیرعادلانه وي بر سیره پردې چې له یوې ولسوالۍ نه یو یو تن حق د انتخاب درلوده او په عین حال کې بلې ولسوالۍ چې شل زره تنه اوسیدونکي درلود ل هغوی هم یو تن نماینده منتخب کاوه.

همدا رنګه نوې احصاییه ګیرې په اوسنیو حالاتو کې

څه آسان کار نه دی، مخکینی نظام فقط د او سنی ربری د حل او دیوه موقت حکومت ټینګیدو لپاره منو، په هیواد کی وروسته د سولی له ټینګیدو نه د نیاو «عدالت» په اساس او د نفوس په مطابق باید نمایندهٔ حکومت منتخب شی، له کمونیستانو سره ایتلافی حکومت جوړول زمونږ له نظره مردود او ظالمانه دی.

د ایتلافی حکومت مفکوره او د قدرت ویش پداسی وخت کی دلاری د حل د سرلیک په توګه مطرح شو چی روسانو په افغانستان کی پخپله حتمی ماته منله، نو هماغه ؤو چی روسانو به نړیوالو کنفرانسونو او مجاهدینو ترمینځ خبرو اترو کی کوم اهم تو کړ چی روسانو دلاری د حل په توګه وړاندیز کاوه هغه د قدرت ویش او ایتلافی حکومت ټینګیدل وو. د مجاهدینو هیئت او د روسانو نمایندګانو ترمینځ طایف کی په لومړی خبرو اترو کی د روسانو یو اځینی غوښتنه او وړاندیز له مجاهدینو نه ایتلافی حکومت ؤ.

د مجاهدینو د هیئت رئیس دا وړاندیز په کلکه رد کړ او ویی ویل چی دا کار زمونږ په چارو کی لاس وهنه ده. مونږ هیچاته د خپل هیواد په اړونده چارو کی دلاسوهنی اجازه نه ورکو، خو تاسی روسان مونږ افغانانو ته حق راکوی چی د روسیی د حکومت مخالفین ستاسو په حکومت کی د ګډون حق لری.

په ۱۹۸۷ کال کی د ملګرو ملتونو له سرمنشی سره د مجاهدینو د هیئت لیدنه کی د قدرت ویش د منشی په واسطه یاد شو چی د مجاهدینو د هیئت رئیس ځواب کی وویل: غواړم، پوه شم اخلاقی اصول او د انسانی حقوقو مفهوم په اسلامی او شرقی هیوادونو کی غیر له هغه نه دی

چې په لويديځو هېوادونو کې رواج دی.

مونږ خبر يو نازيان وروسته له نيمې پېړۍ نه ديهودو دقتل په جرم او حتی نه په جرم دقتل، بلکې په اتهام دګډون دنازيانو په لښکر کې په اعدام محکوميږي او ترهغه ځايه چې دملګرو ملتو مخکينی سرمنشی او ختيځی اروپا ديوه هېواد جمهور رئيس «والدهايم»[1] ځينو هېوادونو ته فقط پدی تور چې څو ورځې د «هتلر»[2] په پوځ کې پوځی وو، د سفر حق نلري، او قضايي تحقيق لاندې کيږي. آيا دا عدالت دی چې له مونږ نه غواړي چې ديو نيم ميليون انسانانو دقتل عاملين چې ديوه يرغلګر هېواد په ټانکونو سواره له سره لښکر سره يې يوځای پخپل هېواد يرغل وکړ، او په ورانه ورانی يې تبديل کړ، هغوی ته دخپل برخليک په ټاکلو کې ګډون ورکړو، او له هغوی سره ګډ حکومت جوړ کړو، دا دحق او عدالت دکوم معيار په اساس له مونږ نه غواړي؟

---

۱. کورت والدهايم؛ په ۱۹۱۸م کال د دسمبر په ۲۱ نيټه، په اتريش کې پيدا شو. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۸۱م کاله پورې، د سازمان ملل دبيرکل وه. پنځه کاله وروسته، له ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۲م کاله پورې، د اتريش جمهور رئيس وه. بالآخره په ۲۰۰۷م کال کې، د ۸۸ کلونو په عمر د قلبي رنځ له کبله مړ شو. زندگی نامۀ، کورت والدهايم (۱۹۱۸-۲۰۰۷) وبسايت همشهری آنلاين، جمعه ۲۵ سرطان ۱۳۸۲- ۳۳:۵۰:۱۱، کود مطلب: ۲۴۳۱۹، http://www.hamshahrionline.ir/details/24319.

۲. آدولف هتلر؛ د آلمان د سوسياليستو کارګرانو د ملی حزب (نازی حزب) رهبر چې د اپريل په ۲۰ نيټه ۱۸۸۹م کال کې زيږيدلی. هتلر د يو تجربه کار عسکر په توګه د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال په ۱۹۲۰م کال کې، له نازي حزب سره يو ځای شو او په ۱۹۲۱م کال کې، د حزب د رييس په توګه وټاکل شو. هتلر په ۱۹۲۳م کال کې، د «آبجوفروشی مونيخ» په نامه مشهوره شوې ناکامه کودتاکې د ګډون په تور په ۵ کاله بند محکوم شو او په همدې موده کې يې د «نبرد من» په نامه کتاب و ليکه. هتلر له بند نه تر آزادی وروسته ملی ګرايي مفکورې ته بلنه، د کمونستانو، يهودانو او د ورسای تړون پرضد ويناوو کې زيات شمېر پلويان پيدا کړل، او په ۱۹۳۳م کال کې، د آلمان صدر اعظمي مقام ته ورسيد. او بالآخره د برلين د جګړې په وروستيو ورځو کې د اپريل په ۲۹ نيټه ۱۹۴۵م کال کې، له «اوا براون» سره چې د اوږدې مودې لپاره دهغې معشوقه وه واده وکړ او د اپريل په ۳۰ نيټه ۱۹۴۵م کال کې؛ يعنی له ازدواج څخه يوه ورځ وروسته له خپلې مېرمنې سره يو ځای خپل ځان مړ کړ. نبرد من، د هتلر مشهور اثر او تاريخ روابط بين الملل (۱۸۷۰–۱۹۴۵م)، ۵۱۹: مخ.

آیا دا ښایي چې دیوه ملت قاتلین چې له خپلو نیرو جنایاتو څخه پښیمانی او ندامت هم ونکړي دولس له ژغورونکو سره یوځای ګډه حکومت جوړ کړي.

ګرانو هیوادوالو !

تاسی پوهیږئ چې ملی پخلاینی دشیاد «ببرک»[1] نه ترجلاد «نجیب»[2] پورې دڅو کلونو راهیسی دروسانو

---

۱. ببرک کارمل؛ په ۱۳۰۸لمریز کال د کابل په «آب‌کَمَری» کلي کې زېږېدلی؛ امّا دهغه د نسب په هکله کره معلومات نشته ځکه ځینې یې کاکړ بولي او ځینې نور یې بیا کشمیری‌الأصل. ببرک کارمل د ځوانۍ په لومړیو کې د کمونستي باورونو پر اساس د خپل پلار له مخالفت سره مخ شو. کارمل په ځوانی کې عیاش شخص وو. کارمل د ځوانۍ عمر په لومړیو شیبو کې د الحادی مفکورې پسې ولاړ او عیاشې یې غوره کړه نو ځکه د خپل پلار «حسین خان» له لوري څخه عاق شو. حسین خان د ببرک پلار هغه د لجوج او بې شخصیته شخص په توجه یاد کړی دی. کارمل سره له دېنه چې متأهل وه د خپل یوه ملګري له مېرمن «اناهیتا راتبزاد» سره یې نا مشروع اړیکې درلودې. هغه تقریبا د ۷ د ثور ۱۳۵۷ کال له کوتا څخه ۳۰ کاله مخکې د «K.G.B» په چوپړ کې ګمارل شوی وو. د ببرک مستعار نوم په «K.G.B» کې «مارید» وو. ببرک په ۱۳۴۲لمریز کال کې، د پرچم حزب جوړ کړ، او د مارکسیزم، لنینزم د مفکورې د خپرولو لپاره یې زیات زیار وګاله. ترڅو چې په ۷ د ثور ۱۳۵۷ لمریز کال، کوتا پرمهال له تره کي څخه وروسته د پیاوړي شخص په توګه مطرح شو. اما له لړزنه څخه وروسته په حزب کې د داخلي اختلافاتو له کبله د سفیر په توګه له هېواد نه بهر تبعید شو. او هلته له دندې څخه لرې کړای شو او مسکو ته ولاړ. ترڅو چې په ۱۳۵۸لمریز کال کې، د روسانو په مرسته قدرت ته ورسید او په ۱۳۶۵لمریز کال کې، روسانو نجیب په هغه بدل کړ. اردو و سیاست، ۳۲۱: مخ، تاریخ مسخ نمی‌شود، ۴۲:مخ او K.G.B په افغانستان کې، واسیلی متروخین.

۲. نجیب؛ د اګست میاشت په ۱۹۴۷م کال د کابل په ښار کې نړۍ ته ستر ګې پرانستي، نجیب د خلق دموکراتیک ګوند د پرچم څانګې غړي وه. د ثور د ۷ نیټې ۱۳۵۷لمریز کال له کودتا څخه وروسته په کمونست ګوند کې په کار بوخت شو. په ۱۹۷۳م کال کې یې د شاه محمد دوست او د هندوستان کمونست ګوند په مرسته د K.G.B غړیتوب ترلاسه کړ. او د «پوتوموک» په مستعار نوم سره د K.G.B په آرشیف کې ثبت شو. څه موده وروسته مسکو ته ولاړ او د شوروی قواوو سره یوځای په ۱۹۷۹م کال کې د دسامبر په میاشت کې کابل ته راغی، او د(خاد ) په دولتی استخباراتی سازمان کې د رئیس په توګه وګمارل شو. په دې وخت کې یې په مسلمانو بندیانو نه ښنونکی جنایتونه تر سره کړل. هغه په ټول جرأت سره د استالین د مخفی پولیسو د رئیس په ملګرتیا د ۸۰ زرو کسانو د اعدام حکم بې رحمانه امضاء کړ او په دې کړنه ویاړېده. د خاد د شکنجې طریقه بې‌خوابی، برقي ټکانونه، دره وهل، د فانتا د بوتل کارول، د جوشو ابو اماله په کلموکې، د سر د ویښتانو شکول، د ښو او لاسونو د نوکانو ویستل او لسګونه ډول نورې شکنجې. K.G.B نه یوازې دا چې د خاد کارکونکې یې

دبرنامو یوه برخه په افغانستان کی دایتلافی حکومت دټینګیدو لپاره دی. ترڅو لدی لاری دولس په ځیګر توره ښځه او دخپلو غدارانو په جنایاتو، دبطلان لیکه وباسی او د «کی. جی. بی»[1] نمایندګان زمونږ دهیواد او پوځی اسرارو کی ګډون ولری.

دایتلافی حکومت جوړیدل دخلق او پرچم له ډلو سره څه په ملکی ساحه کی او څه په پوځی ساحه کی رد شوی دی.

پوه هیوادوالو!

ټول پدی حقیقت پوهیږی چی دافغانستان سیاسی او پوځی حل کلی له روسانو سره ده. روسان دی چی دسولی

---

روزل بلکې د نوکانو د ویستلو لپاره یې ځانګړي وسایل هم په اختیار کې ورکول. د میز په څنډه باندې یې د میخ په شان وسپله ځای پرځای کړې وه او د بندیانو لاسونه به یې پرې کېښود ل ترڅو دا وسپنه د نوک او غوښې ترمنځ ولاړ شي او بندي زجر وویني. نجبی په ۱۹۸۶م کال کې، د ببرک کارمل ځای ناستی شو، او باالآخره کابل ته د طالبانو د لومړۍ ورځ په راتګ سره د نړیوال سازمان له مرکز نه ونیول شو او په ۱۹۹۶م کال کې د سپتامبر په ۲۷ نیټه له خپل ورور شاپور احمدزی سره یو ځای ارګ ته نږدې د آریانا په څلور لارې کې په دار را وځړول شو. «انتصر الافغان وسقط المنجل والسندان» دکتور محمّد مورو، او رها درباد، د ثریا بهاء د نجیب د ورور ښځه، ۳۸۴-۳۸۵: مخونه، «کی جی. بی، در افغانستان» واسیلی متروخین، ژباړه، حمید سیماب او اردو و سیاست، ۳۲۴: مخ.

۱. کی جی بی؛ د شوروي اتحاد د اطلاعاتو او امنیت ادارۀ پخوانی مخفف نوم وه. د پخوانی شوروی اتحاد د اطلاعاتي سرویس، مخفی پلیسو او اطّلاعاتی (جاسوسی) آژانس یو عمومي نوم ګڼل کېده. په ۱۹۹۱م کال کې د اتحاد جماهیر شوروی له ړنګېدو څخه وروستهKGB په (د روسې ضد جاسوسی سرویس) په نومFSB بدل شو. نقد کونکي باور لري چې دا یوازې د نوم بدلون دی؛ اما KGB د پخوا په شان خپلو فعالیتونو ته د پردې تر شا ادامه ورکوي. KGB دا سې توره ده چې د کرملین لېډران د هغه په وسیله باندې خپل مخالفین له منځ وړي او اطاعت ته یې مجبوره وي. د KGB ګمارل شوی اجرایې څانګه په بهرنی سیاست کې په دوه برخو ویشل شوي ده: یوه ډله پوه، تعلیم لرونکې کسان دی چې تعداد یې د دوهمې ډلې په نسبت لږ دی، اما دوهمه ډله یې یو زیات شمېر د پلوماتان، خارجي تجارت کونکي استازي، په هوایې شرکتونو کې ګمارل شوي کسان، د ملګرو ملتونو د سازمان کمونست غړي او ... میثاق خون، د تاریخ په اوږدو کې د کمونیزم جنایات، ۷۰–۷۳: مخونه او کی جی بی په افغانستان کې، واسیلی متروخین، ژباړه: داکتر حمید سیماب.

تأمین، دجګړې پای او د قدرت انتقال په سوله ایز ډول په لاره کې خنډ اچوي که روسان له تیرې لاس واخلي نورنو د قدرت انتقال دومره کړکیچنه معمی نده چې نړیوال پرې سرګنګسې کړي.

دافغانستان پوه او با شعوره خلک کولای شي دروسانو دپوځي یرغل او سیاسي دسیسو نه لاس اخیستلو سره خپل هیواد کې دسولې په فضا کې حکومت ټینګ کړي.

مونږ معتقد یو چې دمجاهدینو موقت حکومت دهغه د نعم البدل مینځته راتک پورې دلارې دحل په توګه دنجیب دحکومت ځای ونیسي.

همدا راز مجاهدي ډلې په اتفاق دیو بل دمشهورو قوماندانانو اغیزمن سیاسي، ملي او دیني شخصیتونو ګډون کولای شي یوه انقلابي شورې رامینځته کړي چې دیوه قانوني حکومت تر ټینګیدو پورې چارې پرمخ یوسي.

همدارنګه کولای شو دانتخاباتو کمیسیون پداسې حال کې چې بنسټ ئې پراخ کړو دټولو ګوندونو نږدې اکثریت په اتفاق او دسیاسي او دیني شخصیتونو په ګډون دنجیب دحکومت ځای ونیسي مشروط پردې چې دانتخاباتو کمیسیون غړي له پوه افرادو او دجهادي ګوندونو په موافقې په پراخ بنسټ رامینځته شي.

حل او خیر ایجابوي چې اوسني تروریستي دستګاه وي سمدلاسه منحل شي ترڅو دمجاهدو ګوندونو او مخکیني امنیت ادارو دمطمینو افرادو په مرسته دامن اداری دانتخاباتو په ترڅ کې امنیت په غاړه واخلي، البته دروسانو دیرغل قطع دافغانستان په چاروکې اساسي شرطه دهرډول ګرامي په مینځ ته راتک دی، زمونږ په هیواد کې.

دردمنو او مهاجرو هیوادوالو !

بل مطلب چې هغه سره تماس ونیسو د «صدرالدین آغاخان» وروستي وړاندیز دی. دا وړاندیز چې په نړیوالو مطبوعاتو کې د ټودو قضایاوو په عنوان خپور شو د سولې دزون ټینګیدل او د مهاجرین ستنیدل دي خپلو سیموته.

دلته مخکې لدینه چې په معقولیت او یا عدم معقولیت یي بحث وکړم لومړې لـه خان نه پوښتنه وکړو ، د هجرت او آوارګـی عامل له خپل تاتویي نـه د دغه عظیمو انسـانی څپو څه وو ؟ ولـی افغانان خپـل هیواد سره مینه لري چې له یوې مخې خپل ښکلي هیواد او شـته پریښـودل او په لوڅو پښـو د مجهولـو برخلیکونـو په لـوري لیوني ډوله په خـو ځیدوکي شـول، د هجرت په کورکې له هرډول محرومیت او ذلت ته يي پنجه ورکړه.

هو ! ټـول پوهیـږو چـې زمونـږ دینـداره او نجیب ولـس دخپلـی عقیـدی د تحفـظ او خپلو بې دفاع ماشـومانو ښـځو د ژغورنې لپاره هجرت ته اړ شول، آیا اوس په هیواد کې سوله ټینګه شویده ؟ او مخکینی ربړی بیخی له مینځه تللی دي؟

ګرانو هیوادوالو !

د جمعیـت سیاسـت د هجرت په اړه سـخت ګیـروو ، مونږ همیـش خپلـو قومندانانو ته هدایـت ورکړې دي چـې ترکومه حده پوري چې امکان لـري بهرتـه د هجرت مخنیوی وشـي ، ترڅـو دښـمن ته ډګـر خالـی پاتې نشـی له یـوه پلـوه د هجرت محرومیتونه باعـث د پیداکیدو د عقـدو او روانی انحرافاتو د بعضـی کم ظرفه او اندک رنجه عناصرو په مینځ کې کیده او همداراز مونږ پوهیدو چې بې شـمیره دښمنان مونږ ته له پولی اخو په کمین کې ناسـت دي، او زمونږ د ولس له محرومیتونو

او احتیاج نه استفاده کوی، او د دغه باتقوی او سپیڅلی ولس دانحراف لپاره دام ږدی.

جمعیت سربیره پر دغه ځانګړی دید د مهاجرینو بیرته ستنیدل هیوادته هغه هم د مجاهدینو ګوندونو بې له منظم پلان نه یوائې ملګری ملتو دعاقبت نااندیشه افرادو تروریستی لاندی چې معلوم ندی، هغوی له کومو ډلو خلکو دی زمونږ له نظره مردود دی.

لدی کبله چې تراوسه جګړه روانه ده، تر اوسه د مهاجرینو استوګنی لپاره ځای ندی تیار شوی، تراوسه خوراکی ربړی هماغسی پاتی تراوسه بې شمیره مینونه د مهاجرینو ژوند او خصوصاً د ماشومانو ژوند تر ګواښ لاندی نیولی دی. خو که د سولی سیمی د مجاهدینو په ارتباط وی خو هیڅکله یې امنیت نشی تضمین کیدای؛ مګر دا چې په یوه ډول نه یوه ډول ملی پخلاینی منلو ته ځان چمتو کړی. او که دټولو هدف د ملی پخلاینی تأمین وي له کړولاړو د مجاهدینو دریځ پدی هکله څرګند دی.

او که د دښمن تر کنترول لاندی سیمی تر کنترول لاندی وی نو زمونږ د مظلوم ولس د تسلیمی او سپارلو معنی ورکوی، او که وویل شی چې نور مرسته ورکونکی هیوادونه چمتو نه دی له پولو نه بهر مهاجرینو سره مرسته وکړی، دا معنی لری چې اصلاً زمونږ د ولس ژوند د دغه هیواد په وړاندی ارزښت نلری.

همداراز مختلفو ولایاتونه د سولی سیموته مهاجرینو بیرته ستیندل، ددی معنی ورکوی چې بیا زمونږ ولس د هیواد په مینځ کی مهاجر شی او د بی کوری لړی دوام ولری، زمونږ په عقیده د مهاجرینو د بیرته ستنیدو عملی لار پدی کی نده چې مهاجرینو باندی دی خوراکی موادو مرسته بنده شي

ترڅو دې ته اړ شي چې خپل هېواد ته ستانه شي ځکه دا عمل ډېر غیراخلاقي او ضد انساني دی، د افغانستان ولس خپل هېواد سره مینه لري همدا چې شرایط مساعد شي په خپله خو به خپل خواږه ټاټوبي ته ورداننګي.

زما په عقیده د عملي حل لاره، دا ده چې ملګري ملتونه او خوا خوږي هېوادونه باید د مجاهدینو حکومت او تنظیمونو ته د بیا ودانولو امکانات او د مهاجرینو د بیرته ستنېدو وسایل په واک کې ورکړي ترڅو د مجاهدینو تر کنترول لاندې سیمو کې شرایط مساعد شي او وروسته بیا د هرې سیمې او سیدونکي خپل ښار او سیمې ته لاړ شي.

همدا راز مونږ له ملګرو ملتونو څخه غواړو چې د مرستو د بندېدو وسله دې د مجاهدینو په وړاندې نه استعمالوي او د دې پرځای دې دیوه آبرومند سیاسي حل په لټه کې شي او د بیا ودانولو او مخصوصاً د استوګنې او خوراکي موادو د تأمین پروسه دې په ګړندیتوب پلې کړي.

ګرانو هېوادوالو!

خبریم چې انفلاسیون او شدید پولي تورم او د ژوند دلومړنیو موادو نشتوالي د هېواد په ټولو سیمو کې او د هېواد لوید یځو او مرکزي سیمو کې قحطي، زمونږ مظلوم ولس سخت ځوروي او ټول پوهیږو چې دا ټول د دغه منحوس او غیرانساني رژیم سوغاتونه دي.

د افغانستان اسلامي جمعیت ځینو اسلامي هېوادونه او ملګري ملتونو ته د قحطي د ربړې حل لپاره پیغامونه لیږلي او د زرتر زره مرستې غوښتنه ترینه کړېده چې بدبختانه د ملګرو ملتونو تر تشو وعدو پرته تراوسه پورې پدې برخه کې هیڅ کوم عملي او اغیزمن ګام ندی اخیستل شوی.

مونږ خپل کوښښ ته دوام ورکوو، زیار باسو ترڅو د ملګرو ملتونو غنم د قومندانانو او یا د هغوی د شوری له لاری ترسره شی، د رفاه مؤسسی څانګکی به هم د هیواد په دننه کی د قومندانانو او ملګرو ملتونو ترمینځ دا ړیکو دنده ترسره کړی.

متأسفانه چی د مزدور رژیم بی ضمیره واکمنان د قحطی د منځته راتګ لپاره خوراکی مواد په لوړو بیو له بازار نه اخلی او ذخیره کوی یی، مونږ د غه جنایتکارانه عمل په کلکه غندو.

ګرانو هیوادوالو!

د کابل ښاریان په جریان کی دی چی د جمعیت مجاهدینو د روسانو له وتلو سره د مزدور رژیم نسکوریدو لپاره د سالنګ لاره وتړله ترڅو د کابل مزدور رژیم باندی وسلی او مهمات بند شی.

د رژیم د پوځیانو د شهادت په اساس حالات په مزدور رژیم باندی داسی سخت شوی وو. چی که یی تریوی اونی پوری دوام کړی وای رژیم نسکوریدونکی ؤ، خو پدی وخت کی د کابل ښاریانو اکثریت غوښتنه وکړه چی د مجاهدین لاره خلاصه کړی ځکه چی هغوی د خوراکی موادو نشتوالی سره مخامخ دی.

مجاهدینو د کابل د محرومو ښاریانو له غوښتنی سره سم پداسی حال کی چی مزدور رژیم د نسکوریدو په درشل کی ؤ د محاصری کړی له مینځه یوړه او لاره یی هغو کاروانونو ته چی روسیی نه راتلل خلاصه پریښوده، پدی کاروانونو کی ظاهراً خوراکی مواد خو په خفا کی یوه زیات اندازه وسله یی کابل ته ورسوله شوه، اوس بیا هم د قحطی د مخنیوی لپاره

مونږ پریکـړه کړېده ترڅو د ملګرو ملتونـو خوراکی مواد چې داروپـا لخوا افغانسـتان تـه راځي د ملګـرو ملتونـو دادارې لاندې بې له دې نه دې چې د روسـانو لاس پوځوته د اسـتفادې وخت ورکړل شي او د قومندانانو د شوراګانو لخوا دې قحطي ځپلو سميو په مينځ کې وويشل شي.

ګرانو هيوادوالو !

کـه څـه هـم زمونـږ مظلـوم ولـس د روسـي ښـکيلا ګګرو ديرغـل کړاوونـو او د هجـرت پـه محيـط کـې محروميتونـو سـخت سـتړې کړېدی، خو د هيـواد ژغورلـو او د بهرنی يرغل دوروسـتيو جرړو دله مينځه وړلو لپاره د جهاد له دوام نه پرته بله لار نلرو، پدا سـی حال کی چی د ښـمن خپله وسله په ځمکه نده ايښـی او زمونږ ميړنی ولس د خپلو شهيدانو لور ارمان ته ندی رسـيدلی د جهـاد په مورچل کی ستاسـی فعال حضور او مقاومت يو حتمی امر دی.

مونږ يقين لرو چې د روسيې ناروغه اقتصاد، نورا جازه نه ورکوی چې د کريملين واکمنان دی ديو موټې مزدورو د ملاتړ پـه لاره کی ديـوی اوږدې مودی لپاره د کال پنځـه بليونه ډالره مصارف وګالی، مونږ ايمان لرو که داسی اشتباګانی دوام هم ومومـی، مزدور رژيـم په خپله طبيعـی لاره د نابودی کندی په لوری روان دی د قرآن د هدايت په مصداق:

﴿إِنَّ الَّذِيـنَ كَفَـرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَـبِيلِ اللّٰهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ..﴾[1]

دالله دغه امر چې روسـان د اسـلامي حکومت د ټينګيدو

---

۱. انفـال / ۳۶. ﴿إِنَّ الَّذِيـنَ كَفَـرُواْ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّواْ عَن سَـبِيلِ اللّٰهِ فَسَـيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْـرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ إِلَى جَهَنَّمَ يُحْشَـرُونَ﴾ (کوم کسـان چې کافـران دي هغوی خپل مالونه د الله له لياري څخه د منع کولو لپاره مصرفوي، نور به مهم مصرف کړي خو اخرني نتيجه به يې يوازې پښيمانتيا او بالاخره له ماتې سره مخ وي او کافران به جهنم ته ور ټوک کړای شي.)

مخنیـوی لپاره هلی ځلی کوی له ندامت او په پای کی له ماتی سره مخامخ کیدونکی دی.

دمـزدور رژیـم دغه دغنی جـال بـه ویجاړیـږی، او بیا هم زمونږ ټول ولس صبر او استقامت ته اړتیا لری.

ګرانو هیوادوالو !

دمجاهدینـو مؤقـت حکومـت پـه عمومـی توګـه او دافغانسـتان اسـلامی جمعیـت پـه خصوصـی توګـه ددولت دپوځـی او ملکـی کارکونکـو څخه غـواړی چی ژرتـرژره دی پرتمین اسـلامی انقلاب او خپلو مجاهدو وروڼو په لیکوکی شـامل شـي، مونږ ټولو ته دهیوادوالو په حیث ښـه راغلاست وایـو، کـه غولول شـوی ؤو او که مجبـور ؤو، مونږ او تاسـی ټـول پوهیږو هغه چاچی له هیواد سـره غداری وکړه شـمیریی محـدود دی هغـوی سـره بـه هـم دقضایـی څانګوتـر جوړیدو او دسـولی ترټینګیدو وروسـته داسـلام عادلانـه قوانینو پـه اساس رفتار کیږی.

په مجموعی توګه داسلامی انقلاب او جهاد په لیکوکی دکابل دښـاریانو شـاملیدل دمـزدور رژیم دنسـکوریدو او په هیواد کی دوینی توییدو دمخنیوی لپاره اغیزمنه وسیله ده، نو دکابل له ټولو ښاریانو څخه غواړو چی دهیواد دژغورلو او مزدور رژیم نسـکورولو لپاره لاره لنـډه کړی ترڅو بی له وینی توییدو او دشـخصی ځایونو او پانګوله مینځه تللو سـوله په کابـل او دهیواد په نورو سـیموکی ټینګه شـی، دځوان نسـل او پـوه هیوادوالـو نقش پدی تاریخی حماسـه کـی برخلیک ټاکونکی دی.

پوه او دردمنو هیوادوالو !

د هیواد د آزادی او ژغورنی په درشـل کی دیوه اسـلامی

افغانستان بنسټ ايښودلو او ديوه ځواکمن او پخپل ځان متکي افغانستان ټينګيدو لپاره دولس يو والى ته اړتيا لرو، د ميړنيو ولسونو عظمت يواځى پدى ټکى نه خلاصه کيږى چى د جګړى په ترخ کى حماسى وزيږوى، بلکى دافرادو مجدو جلال د هغوى په تصميم نيولو او ځواکمنو ارادو کى مخکى له مخکى ځليږى، پوه او هدفمنده ولسونه چى د زرهاؤ، شهيدانو دوينو په بيه آزادى ترلاسه کړى نه خپل هيواد وران پريږدى او نه هم اجازه ورکوى چى د دوي د غفلت له کبله دودانولو په نامه د استعمار نوى لاره د هيواد په لورى خلاصه شى، هيلمن يم د آزادى له ستر اختر سره غبرګ په هيوادوکى د بيا ودانولو ستر جشن پيل شى.

وَمَا ذَٰلِکَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيزٍ[1]

---

۱. ابراهيم/ ۲۰. (او دا [کار] د الله ستونزمن نه وي.)

## دافغانستان اسلامی دولت جمهور رئیس محترم
## پروفیسور برهان الدین ربانی

## درنو هیوادوالو ته د لوی اختر په مناسبت
## دخپل پیغام

کلیکسون فتح؛ دور دوّم نشراتی، شماره دهم، سه شنبه ۱۰ جوزا ۱۳۷۳هـ ش.

الْحَمْدُ لِلّهِ رَبِّ العَالَمِينَ وَالصّلاةُ وَالسّلامُ عَلَى رَسولِه الأمين وَآله وَعَلى آلِه أصحابِه أجمَعين.

مؤمنو هيوادوالو ! ورونو او خويندو !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

دنيكمرغه لوی اختر او دحق په لاره کی سربښندنو ایثار او تیریدنو له امله تاسو ټولو ځوریدلو مجاهدو، پیاورو مهاجرو مؤمنانو، افغانانو او افغانی حاجیانو ته چی همدا اوس په مینی او ولولو سره دحج دمقدسی فریضی په اداء کولو بوخت یاست دځان او دمشرتابه هیئت لخوا مبارکی وایم.

لوی اختر دبری او آزموینی ستره ورځ ده چی لوی خدای دخپل دوه وو ثابتو بندګانو حضرت ابراهیم خلیل الله او حضرت اسماعیل ذبیح الله R په وړاندی کیښوده.

د لوی خدای ددغو دوه فرمانبرداره بندګانو تسلیمی او بشپړ اطاعت دالهی دستور او اجرا په مقصد او دغه راز دهغو کسانو په وړاندی چی د رب العزّت ددساتیرو او اوامرو دصاقانه تطبیق په لاره کی هڅه کوی دلوی خدای داطاعت

لطف او مرحمت بې بدیل مظاهر دي چې نړۍ خپل موجودیت ته دوام ورکوي د هغوی درناوی کوي.

د افغانستان مؤمن او مسلمان ملّت چې د نیکمرغه لوی اختر په خیر لمانځلو سره په واقعیت کې د ذوالجلال پروردګار د د ساتیرو او لارښوونو د اجرا او رعایت په لاره کې پخپلو ژمنو ټینګار کوي.

ګرانو هیوادوالو !

د افغانستان خلک په تیره بیا د کابل ځوریدلي او ایمانداري ښاریان د اختر ورځې چې په طبیعي توګه د مذهبي خوشي او خوشحالي ورځې دي له بده مرغه په بدیو خوا شینونکو شرایطو او حالاتو کې تیروي. چې وطن او هیواد ته دیو شمیر خاینو عناصرو د اسلامي ضد او اسلامي ضد توطیو محصول دي.

زمونږ په ګران هیواد کې د اسلامي نظام د تینګښت وروسته اساسا باید خلکو په آرامي او مصئونیت کې ژوند درلودای، خو هغو عناصرو او ډلو چې خپلې ګټې په لانجو او کرکیچنو حالاتو کې لټوي څو ځلې یې د جګړې په بلولو سره په هیواد کې د ثبات او امنیت د ټینګښت مخنیوی کړی او زمونږ پر مسلمانو او ځوریدلو خلکو باندې نور دردونه او کړاوونه تپلي دي.

د ۱۳۷۲ کال د جدې د ۱۱ نیټې کودتا چې اسلامي ضد او ملي ضد ناکام او له جنایت نه ډک تلاش ؤ هم پداسې حالاتو او شرایطو کې وشو چې دولت په بشپړه توګه له اړوندو لورو سره د تفاهم چمتووالی درلو او هغوی په لومړیو شیبو کې په څرګنده توګه ویل چې کودتایې پیل کړیده، د دوی دغه څرګندونې په ټولو داخلي او خارجي خبري دستګاوو کې ثبت

دی، خو په خپلو شومو هدفونو کې د کودتاچیانو له ناکامۍ وروسته هغوی اوس وايي چې جګړې ته يعنې اسلامي دولت دوام ورکوي.

په داسې حال کې چې د ټول هیواد خلک او نړیوال د دغو عناصرو لخوا د کودتا له پیل کولو او د جګړې له شروع کولو څخه په بشپړه توګه خبر دي پدې اړه انکار نه کیدونکي سندونه موجود دي، په دوه ورستیو کالو کې په تیره بیا د اسلامي ضد او ملي ضد مثلث کودتا ثابته کړه چې جګړه د حل لاره نه ده، هغه کسان چې په نظامي حل ټینګار کوي له دې پرته چې خپل سیاسي ژوند لنډوي بله هیڅ ګټه نه ترلاسه کوي، لدې امله د داسې مسئلو د حل لپاره د سیاسي خبرو اترو او مفاهمو ته احترام وشي.

دولت پداسې حال کې چې په بیخي محسوس نظامي برترۍ کې دی خو د سولې د ستراتیژۍ په اساس پیاوړې عقیده لري چې د خبرو اترو له لارې او د خلکو ارادې او غوښتنې ته د درناوي له لارې د مسئلو د سیاسي حل لپاره داډمنه لار پیدا کیدای شي.

اسلامي دولت عقیده لري چې د خلکو تصمیم او نظر د آزموینې ډیر ښه ډګر دی چې له حق له باطل څخه جلا کولای شي، د مسئلو د څرنګوالي او د هغو راتلونکي په باب خپله پریکړه او اراده صادروي، خلک جګړه او جګړه ماران په کلکه سره غندي، خلک د هغو کسانو په نسبت چې د استوګنې پر سیمو او پر بې دفاع او مظلومو خلکو په وحشت او بې رحمي سره د درندو وسلو بریدونه کوي کرکه او نفرت څرګندوي، خلک هغه کسان ډلي ټپلي چې غواړي دلارې په ترڅلو سره ښارونو او د استوګنې سیمو ته د خلکو د

اړتيا وړ مواد و د رسيدو لارې ترې د اسلام، وطن او خلکو دښمنان بولي.

خلک هغه کسان چې د افغانستان په کورنيو چارو کې د بهرنيانو دلاس وهنې او مداخلې سبب ګرځي د پرديو دلاس آله، د هيواد د آزادي، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي واکمنۍ او د افغانستان د تاريخي وياړونو دښمنان بولي، لدې امله د حيرانتيا ځاى نه دى چې د غه شان اشخاص د خلکو له قضاوت او ارادې څخه پرېږدي ځکه فکر کوي چې د خپل سرنوشت په ټاکلو کې د خلکو حق ته درناوى وکړي نو دوى به له سياسي نيستۍ سره مخامخ شي.

اسلامي دولت پدې باور دى چې يوائې خلک د دې حق او واک لري چې د خپل وطن د سياسي مشر د انتخاب په باب تصميم ونيسي هيڅ ډله او هيڅ ځواک بايد هڅه ونکړي چې ځان د خلکو پرځاى حساب کړي، خپله اراده د خلکو د ارادې پرځاى تحميل کړي، له دې امله زمونږ په نظر دلانجو د حل عملي لار او په هيواد کې د دوامداره سولې او امنيت د تامين لار دا ده چې بايد خلکو ته مراجعه وشي ځکه دا کار په ټوله آزاده او معاصر نړۍ کې معمول دى، چې د هيواد د راتلونکي مشر او د هغوى د سياسي جوړښت لپاره د خلکو د استازو يوه اجتماع جوړه شي چې په هغې کې ټول مليتونه او د هيواد ټول قومونه او د ټولو مذهبونو لارويان په متناسبه توګه برخه واخلي د خلکو د استازو د غه ټولنه کيداى شي چې دلويې جرګې، د ملي سترې شورى د مشرانو مجلس او يا په کوم بل نامه سره ياد شي لدې امله چې د د غه شان يوې شورى د جوړېدو په کار کې هيڅ ډول ګروهي نفوذ نه وى، يو بيطرف کميسيون د مصلحو خير غوښتونکو او د نظر وړ خاوندانو او

شخصیتونو څخه جوړ شي، دغه کمیسیون دی د ملګرو ملتو د سازمان او د اسلامي هیوادونو کنفرانس لخوا تمویل شي، هغوی دی د کمیسیون د جوړیدو او څرنګوالي او د شورې د جوړیدو څارنه وکړي، د کمیسیون په تشکیل کې دی محترم جهادي تنظیمونه، قوماندانان، عالمان، روحانیون، اصلاحي شوراګانې د اصلاحي شوراګانې د اصلاحي د سولې هیئتونه، د پوهنتون استادان، قومي او ټولنیز مخور شخصیتونه همکاري وکړي، دغه کمیسیون دی شورې د جوړیدو لایحه برابره کړي.

درهبري مقام دکاندیدانو شرایط او مواصفات دی مشخص کړي او د دې مقام د کاندیدانو لست دی شورې ته معرفي کړي، دولت پدې ارتباط هر اړخیزه طرحه په پام کې لري له صلاح مشورې وروسته به اعلان شي.

لدې امله چې دغه بهیر په چټکۍ او اغیزمن توب سره دوام وکړي لازمه ده دایمي اوربند ټینګ شي مواصلاتي لارې پرانستل شي، دغه کمیسیون دی دلارو د پرانستل والي او اوربند څارنه هم وکړي.

اسلامي دولت د نیکمرغه لوی اختر دورځو د سپیڅلتیا په خاطر د شنبه له ورځې څخه د اونۍ تر پای پورې اوربند اعلانوي، دیادونو وړ ده چې د افغانستان اسلامي دولت هغو صادقانه او مخلصانه هلوځلو ته چې تر اوسه پورې په هیواد کې د سولې د تامین په لاره کې شوي دي د قدر په سترګې ګوري، د اصلاحي شورې، د غزنې شورې او د سولې د نورو هیئتونو د هڅو او دغه راز د محترم «محمود مستري» په مشرۍ د ملګرو ملتونو د هیئت هلې ځلې او د دوست هیوادونو علاقه مندي ته چې غواړي په افغانستان کې

د سولې په تامین کې رول ولوبوي د افغانستان اسلامي دولت لخوا دستاینې وړ دی.

هیله لرو د غه هلې ځلې هم غربي او چټکې شي چې دیر ژر د داسي حل لارې د پیدا کیدو سبب شي چې د افغانستان د مسلمان او آزاد ملت د ګټو ضامن وي او د تل لپاره پدې وطن او خاوره کې سوله او امنیت تامین شي.

باید زیاته کړم چې په افغانستان کې د سولې او امنیت د تامین په ارتباط د پاکستان د دوست هیواد د صادقانه هلو ځلو او پدې ورو ستیو وختونو کې د دغه هیواد لخوا پیل شوو سوله ییز هڅو ته د افغانستان اسلامي دولت لخوا هر کلی کیږي.

ګرانو هیوادوالو !

لکه څنګه چې زمونږ اسلامي منل شوي دود د اختر ورځې د خوښۍ ورځې بولي، د دوستیو د ټینګښت او پخلاینې ورځې بولي، مونږ هم د دغه ښه دود په اساس یو ځل بیا له ټولو اړخونو او هغو کسانو څخه چې د هیواد د روانو قضایاو په حل او د دې خاورې ځوریدلي خلکو ته د سولې او آرامۍ د راوستو په لاره کې چې واقعاً د هر ډول زړه سوي او مرستې وړ دي کولای شي رول ولوبوي، غواړي چې زمونږ د هیواد د مسلمانانو او مظلومو خلکو د دردونو او کړاونو په کمولو کې صادقانه او مخلصانه همکاري وکړي.

او باید هڅه ونکړي چې یو ځل بیا د ګولیو په ډزو سره د دې خاورې د کړیدلو خلکو پر وجود باندې خونړۍ ټپونه ورزیات شي، زمونږ هغوی هم د احساساتو پر ځای له تعقل او تفکر څخه کار واخلي.

د جګړې د بندیدو او پدې هیواد کې د سراسري سولې

د تامین په لاره کی کـه د جگړې ډیری ترخی زغمـل دی او نور د هیـڅ دول تقـد س او فشـار تـوان په کښـی نـدی پاتـی خپله اسـلامی وجیبه او ملی او تاریخی مسـئولیت د سولی په ګټه چی زمونږ د اسـلامی او افغانی لوړو ارزشـتونو سـره سـمون لری خپل رول سرته ورسوی.

یو ځـل بیا د اختر له امله تاسـو ټولو ته مبارکی وایم د لوی خدای لـه دربار څخه هیله کوم چی د افغانـی حاجیانو او نورو مسـلمانانو دعـا قبوله کړی او د افغانسـتان مسـلمان ملت ته تـوان ورکـړی چی نـور اخترونه د سـولی، دوسـتی او وروری پد اسـی فضا کی تیر کړی چی د تشـویش او بد امنی هیڅ دول آثـار پـه کښـی نـه وی، تاسـو ته پـدی لاره کـی د نیکمرغی او کامیابی هیله کوم.

أَقُوْلُ قَوْلِی هذا ، وَأَسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ لِی وَلَکُمْ،[۱] وإنه هو الغَفُورٌ رّحِيمٌ[۲]

وَالسّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ

---

۱. (وایـم: زمـا خبـره همـدا ده، خپل ځان او تاسـو ته له الله ' څخه ښښـنه غـواړم.) په همـدې جملې سـره، پیامبر اکرم Y او یارانو یې کله ناکلـه خپلې خبرې ختمولې. ابن حِبّان، د حدیث شـمېره: ۳۸۲۸ والسلسـلة الصحیحة، د ناصرالدین البانی، د حدیث شمېره: ۲۸۰۳.

۲. الزمر / ۵۳. ﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رّحْمَةِ اللّٰهِ إِنّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذّنُوبَ جَمِيعًا إِنّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرّحِيمُ﴾ (ای پیغمبره! زمـا هغو بنده ګانو ته چې پر ځانونـو یې تیری کـړی دی وو ایه چې د الله له رحمت نه مه مایوسـه کیږئ. ځکه چې الله ټول ګناهونه ښښي او بې شکه چې هغه ښه ښښونکې او ډیر مهربان دی.)

# د دیوبند دارالعلوم

## دیوسلو پنځوسمې کالیزې په مناسبت

---

### دافغانستان اسلامي دولت

### د رئیس پروفیسور برهان الدین رباني پیغام

## یادونه:

دغه پیغام په عربی ژبه د یوبند دارالعلوم[1] د بنست ایښودو یو سلو پنځوسم تلین کنفرانس چې د ۱۳۸۰ لمریز کال د وری له۳۱ تر د غوی تر ۲۰ وری په پیښور ښار کی ترسره شوی وه، اتسول شوی ده.تر څو په دی کنفرانس کی وویل شی، خو د دی لامله چی ټولو ته روښانه ده ونه ویل شو.

---

۱. د دیوبند اسلامي پوهنتون، د محرم په ۱۵ نېټه ۱۲۸۳ کال چې دمې له لومړۍ نیټې ۱۸۶۶ میلادي کال سره سمون خوري، وروسته له دې نه چې د مغولیانو او انګلیسانو له لوري ښخه دهلي و نیول شو او پوهنتون هم له منځ ولاړ، د قاسم ننطاوی او شیخ رشید احمد ګنګوی په معنوی حمایت دا پوهنتون بېرته ورغول شو. دارالعلوم دیوبند؛ مادر مدارس و دانشگاه‌های اسلامی در شبه‌قارهٔ هند، نورعالم خلیل امینی، ژباړه: عبدالرئوف رخشانی، د ندای سنت وبسایت، حمل ۱۳۹۴ لمریز کال.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ * الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي تَتِمُّ بِنَعْمَتِهِ الصَّالِحَاتُ وصَلُحَ عَلَيْهِ أَمرُ الدُّنيا والآخِرَة ، والصَّلاةُ والسَّلامُ عَلَى الهَادِي البَشِيرِ الَّذِي أرسَلَهُ إلى النّاس كَافةً بَشِيراً وَنَذِيراً ، وَدَاعِيًا إِلَى اللَّهِ بِإِذْنِهِ وَسِرَاجًا مُنِيرًا.[1]

و بعد:

د تاريخي كنفرانس رئيس ګران ورور او نور ګډونكو نكيو ورونو !

السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحمةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ

په اسلامي دود درباندي سلامونه وايم، چې دصلحې او امن پيغام دې له ستر او توانا خدايه غواړم چې اسلام او مسلمانانو ته باعمله عالمان اوسې او دحق پر لاره روان او داچې ديوبند دارالعلوم دخداى لارى ته دبلني مخكښې دي، ددې لارې لارويان مو غواړم.

عالمانو ورونو !

١. د مهربان او بښونكي خداى په نامه، صفت دې هغه خداى لره چې نېكۍ د هغه په نعمتونو باندې سرته رسېږي او يوازې په هغه توكل د دنيا او اخرت په كارونو كې سمون را منځ ته كوي، درود او سلامتيا د وى په هغه لارښود او زيرى وركونكي چې خداى د زيرى وركونكي او ويره ونكي په توګه را استولى دى، ترڅو خداى او د هغه فرمان ته لارښود او بله ډېوه وي.

شک نشته چې ديوبند په لروبرکې په لس ګونو زره عالمان روزلي چې د اسلامي امّت د مشرۍ ځلانده مخکښان دي، چې په ترڅ کې په افغانستان کې که زمونږ استادان هم وو. - طيب الله ثراهم -

د افغانستان په تير او اوسني وخت کې د انګلستانو او سره پوځ پرورانـدې مقابله وه؛ نو پر ديوبند کې روزل شوي عالمان او شاګردان د دې آيت «تاسې خلکو ته ښه امّت ياستې، چې نيکيو ته يې رابلې او له بديو يې منع کوې»[1] ښه بيلګه وو، خداى پاک دې ورته ډير اجرونه ورکړي.

ورونو !

دا منم چې په وروستيو دوولسيزو کې چې په افغانستان کې څه تيرې ورباندې پوهيږې، له کمونيستي تيرې نه نيولې د مجاهد ملّت د هراړخيز پاڅون او انقلاب پورې، هغه پاڅون چې د باعمله عالمانو او با اخلاصه جِهادي رهبرانو په مشرۍ پيل او د خداى په مرسته د کمونيزم سور لښکرمات او داخلي ګوډاګيان يې راوپرځيدل او مجاهدينو د اسلامي شريعت له مخې جِهادي دولت اعلان کړ، چې افغانستان د اسلام او ټولو مسلمانانو لپاره غښتلى هډه او اسلام دولت وي او په دې توګه مسلمانان د اسلام دښمنان خوار، سپک او ذيلې کړي. په همدې خيال په ګرد هيواد کې د حق بيرغ ورپيد او د «لآ اِلٰـهَ اِلّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰه» جنډه هسکه شوه؛ خو شرا چونکي او طاغوتي ځواکونه د هغه پرورانـدې ودريدل او

1. تلويحا اشاره ده د آل عمران سورت ۱۱۰ مبارک آيت ته لکه څرنګه چې فرمايي: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ (تاسې د امت هغه غوره ډله يې چې د خلکو د ښېګڼې لپاره راويستلي شوي ياست ځکه چې د نيکۍ په لور بلنه کوئ د بدۍ مخه نيسئ او په الله ايمان لرئ، او که اهل کتابو ايمان راوړی واى ډيره ورته غوره وه، ځيني يې مؤمنان دي خو زياته برخه يې فاسقان.)

څه یې چې په وس کې وو، ددې نوې ځوان دولت دنابودې او راپرځولو لپاره یې وکارول، دفتنو اوروڼه یې بل کړل، دجِهاد دبدنامولو او دمجاهدینو له مینځه وړو لپاره یې دننې او بهرنې ګوداګیان توظیف کړل، چې دا برخه یې عملې کړه، په داسې حال کې چې زمونږ د اسلامې نړۍ وروڼو ورته له لرې کتل او په دوی کې ځینې په دې توطیه کې شریک وو، زه دلته د توطئې د هوارخیزې شرحې په تکل کې نه یم.

فتنې یو بل پسې راولاړې شوې او دسیسې راروانې وې یوه فتنه به چې پای ته ورسیده بله به راښکاره شوه، تردې چې د طالبانو فتنه راولاړه شوه.

اجازه راکړئ چې زه یوې مسئلې ته اشاره وکړم، چې ښایي تاسې ډیروته معلومه نه وي:

مخکې تردې چې طالبان داسلامې دولت پروړاندې دیوې جګړې ماری ډلې په توګه راښکاره شي؛ نو له کندهار[1] ولایت نه یو هیئت راغی، چې ملا محمّد ربانی[2] هم ورسره و، او دکندهار له جِهادې قومندانانو یې لیکونه راوړې و، چې له دې هیئت سره ووینې او غوښتنې یې واورې، استاد سیاف له مانه وغوښتل چې ددوی دلیدو لپاره وخت وټاکې، ما ورسره دهیواد په پایتخت کابل کې ولیدل او دهغوی غوښتنه ته مې غوښه کېښود، هغوی وویل چې مونږ د طالبانو او مجاهدینو

۱. قندهار؛ د افغانستان په جنوب کې موقعیت لري. ۵۴۸۴۴,۵ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې په ۱۳۹۱المریز کال کې، ۱۱۵۱,۱ تنه ګڼل شوي ده. مرکز یې د قندهار ښار دی. جغرافیای عمومی ولایات افغانستان، ۹۹۱: مخ.

۲. ملا محمّد ربانی؛ د طالبانو په رهبري هیئت کې له ملا محمد عمر څخه وروسته په دوهمه درجه قرار درلود. هغه د پیاوړې شورا په رأس کې دنده تر سره کوله چې د هېواد کنترول یې درلود. ویل کېږي چې هغه د معتدلو طالبانو استازیتوب کاوه. هغه په ۱۹۹۴م کال کې، له طالبانو سره یو ځای شو. په یو روایت سره هغه په یوه ملمستیا کې چې د پاکستان د استخباراتو له لوري څخه ترتیب شوې وه په اسلام اباد کې ګډون وکړ او هغه ته یې زهر ورکړل او په ۱۳۸۰ المریز کال د حمل په میاشت کې مړ شو. کرونولوژی حوادث تاریخی افغانستان، ۴۲۰:مخ.

یوه ډله یو، چې «امربالمعروف او نهی عن المنکر» کوو او له دولته غواړو، چې په دی باب زمونږ لاسینوی وکړی، ما ددوی غوښتنی ومنلی او ورته می څرگنده کړه چی دا اسلامی دولت لومړنی دنده «امربالمعروف او نهی عن المنکر» دی، لکه چی خدای تعالی وایی:

﴿الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾[1]

(مؤمنان هغوی دی، چی که پرځمکه چارواکی شی؛ نو لمونځ کوی زکات ورکوی، په نیکی امر کوی او له بدی نه منع، او د کارونو پای پرخدای دی.)

ورته می وویل چی له تاسی سره به مالی او نظامی مرستی وکړو، د کندهار مسئولینو او په سرکی می دفرقی قومندان ملانقیب الله[2] ته ولیکل، چی دهغوی ملاتړ وکړی.

بیا چې کله خبر راورسید، چې د سپین بولدک[3] له لاری په پرمختلفو وسلو سمبالو ډلو دمجاهدینو پرمرکزونو بریدونه پیل کړی؛ نو دعالمانو هیئت می ولیږه، چی دمسئلی له حقیقت نه خبر شو بیاورو سته په ډاگه شوه، چې دا ډله «أمر بالمعروف او نهی عن المنکر» نه غواړی او نه دخپل منځی اختلافاتو لرل کول؛ بلکی دا یوه بله فتنه او ډله ده، چی له بهره یی دوسلو او پیسو ملاتړ کیږی، چی ځینی اسلامی او

۱. حج / ۴۱.

۲. ملانقیب الله آخندزاده؛ د «د افغانستان د اسلامي جمعیّت» یو پیاوړي او مشهور جهادی قمندان وو، دقندهار ولایت له بانفوذ شخصیتونو څخه گڼل کېده، چې له یو عمر مبارزې څخه وروسته په ۱۳۸۲ لمریز کال د میزان په ۱۹ نیټه د پنځ شنبې په روځ له نړۍ سترگې پټې کړې. هفته‌نامهٔ مجاهد، ۱ او ۳: مخونه.

۳. سپین‌بولدک؛ د سپین بولدک ولسوالي ۱۱۰ کیلومتر د قندهار جنوب ختیځ لوریته د دیورند د خط پر کرښه موقعیت لري. او سیدونکی یې د اچکزیان، نورزیان، اسحاق‌زیان، پوپلزیان، بارکزیان، کوچیان او د تَرَه‌کو قومونه دی. د وگړو دنده یې تجارت او زراعت ده، دا ولسوالۍ ۳۳۸ کلي لري. جغرافیای عمومی ولایات افغانستان، ۱۰۰۰: مخ.

غیراسلامي ملکونه هم پکې برخه لري، او د طالبانو د هیئت رالیږنه یو ازې زمونږ په سترګو کې د خاورو شیندلو او تیر ایستو لپاره وه.

﴿الْمُؤْمِنُ غِرّ كَرِيمٌ﴾[1]

(مؤمن د خپل عزّت او حیا له خاطره ځان تیر باسي او په رښتیا چې مونږ تیروتو.)

ومو لیدل چې د کندهار ښار له نیولو وروسته دوی په جګړه وکې ټانکونه او طیاري وکارولې چې د دوی ماهیت ښه رابربنډه شو ځکه په افغانستان او پاکستان کې د دیني مدارسو طالبان د ټوپک او ماشینګنو په استعمال نيپوهیږي، دا خو لاڅه کوي چې طیاري او ټانکونه وچلوي؛ نو ځکه په غوڅه توګه مو یقین وشو، چې د طالبانو په نامه د مجاهدینو د حپلو دفتني اوربل شوي، چې له دې لارې ټول مجاهدین چاڼ او د اسلام د ښمنانو ته لاره اواره کړي.

له دې وروسته مو پر له پسې هیئتونه ولیږل او د جګړې د بندیدو غوښتنه مو وکړه چې راځئ سره کینو او خبرې وکړو. د عالمانو هیئتونو ورسره خبرې اترې پیل کړې او له هغوی نه یې وپوښتل چې څه غواړي؟

که د الهي شریعت د تطبیق پلویان او سې؛ خو مونږ هم د همدې هدف لپاره مقدّس جِهاد کړی، او خلک مو د اسلام ملاتړ ته رابللي وو.

په داسې حال کې چې خلک ویده وو، کله چې مونږ د شوروی اتّحاد[2] پرضد جِهاد اعلان کړ، شمیر مو لږ او

1. سنن ابی داود، د حدیث شمېره: ۴۷۹۲.

2. د دې اصطلاح کامل عبارت، «د سوسیالیستي شوروی جماهیر اتحاد» ده او هغه هېواد ته ویل کېږي چې ۱۹۱۷م کال د اکتوبر د میاشت له انقلاب څخه وروسته د «لنین» له خوا یې بنسټ کېښودل شو، او په کال ۱۹۹۱م د دسامبر په ۲۵ نیټه رسما له منځه ولاړ، جمهوریت په ۱۵ خپلواکو هېوادونو باندې وویشل شو. فرهنګ سیاسی

وسایل مونه لرل او را ته به ویل کیدل چې دوی لیوانیان دي چې له یو داسې ستر دولت سره جګړه پیلوي؛ خو د ملامتوونکیو له ملامتیا پرته مو د خدای په لاره کې جِهاد ته دوام ورکړ، خدای زمونږ تر شا او هدف مو د الهي شریعت تطبیق له هغوی مو وغوښتل چې خپل استازي را ولیږي او استاد سیاف په پغمان[1] ولسوالۍ کې له هغوی سره وکتل او نصیحت یې ورته وکړ او انجینیر مسعود ورته میدان ښار ته[2] ورغی او خبرې اترې یې وکړې او ما په کابل کې د هغوی له او وتنو سره استازیو خبرې اترې یې وکړې؛ خو هغوی د جګړې پر دوام ټینګار کاوه هغه جګړه چې بې ګناه ماشومان، ښځې او بوډاګان پکې لو لپه کیږي، کورونه ورانیږي او د کرکیلې ځمکې په میرو بدلیږي.

له هغوی مو وغوښتل چې یو منځګړی هیئت به وټاکو، د افغانستان عالمان به دا ټول کړو او د اسلامي هیوادونو یو شمیر عالمان هم به راوبولو او ټول واک به هغوی ته ورکړو، هرڅه چې هغوی فیصله کړل، منو به یې.

د محمّد نواز شریف،[3] د حکومت په وقت کې پاکستان

---

آرش، ۲۵:مخ.

۱. پغمان؛ د کابل ولایت یوه معروفه ولسوالي ده، چې له کابل سره په ۲۵ کیلو متره فاصله کې موقعیت لري، او دوه تفریحي درې لري لکه د پغمان دره او دره پشه یې، د کابل رود هم د پغمان له درې څخه را بهیږي. جغرافیای عمومی ولایات افغانستان، ۲۰۳:مخ.

۲. میدان ښار؛ د وردکو ولایت مرکز دی، دا ښار د کابل لودیځ لوري ته په ۳۵ کیلو متره کې موقعیت لري، ۳۴۵ کیلو متر مربع مساحت لري او د بحر له سطحې څخه ۲۲۲۵ متره جګوالی لري. میدان ښار له ۵۹ اصلي او فرعي کلیو څخه جوړ شوی دی. جغرافیای عمومی ولایات افغانستان، ۳۳۱:مخ.

۳. میا محمّد نواز شریف په ۱۹۴۹م کال، د دسامبر په ۲۵ نیټه د پاکستان په لاهور ښار کې پیدا شوی دی. هغه د پاکستان یو سیاست مدار ده چې دوه ځله یې د صدر اعظم په توګه په پاکستان کې دنده ترسره کړېده. لومړی ځل له ۱۹۹۰ کال نه تر ۱۹۹۳ م کاله پورې، او دوهم ځل له فبروري د ۱۹۹۷ څخه تر اکتوتر د ۱۹۹۹م کاله پورې، چې په دې موده کې په خپل لاس ټاکلی د اردو مشر له خوا د کودتا په ترڅ کې ونیول

تـه لاړم، او له پاکسـتان نه مې وغوښـتل چې د جګـړې پای ته رسـیدو لپاره د طالبانو مشـران خبرو اترو ته راوبولي، له سره مـې وړاندیز وکړ چې پنځوس تنه عالمان بـه زموږ له اړخه او پنځوس به د هغوی له اړخه راټول کړو، هغوی راضي شول؛ خو بیا وروسـته پرشـا لاړل او د جګړه ماري خو ایې ټینګه کړه چې پـه زرګونه وطنوال په کـې مړه، ټپي او مهاجر شـول او هغوی چـې دلـوړې او وچکالي له لاسـه ربړېږي، قلم یـې لیکلای او ژبه‌یې ویلای یې نه شي.

زه یقین لرم چې د دوی زړونه د تیګې غوندې سـخت دي، د سولې او یوالي دلاري خنډونه دي دوي چې د طالبانو پـه نامه وژنـې ورانـې لوټ تـالان کوي او خلـک بې‌پردې کـوي اصلاً د دینې مدارسـو طالبان نه دي؛ بلکې ډیریې نشنلیستان، چې د کمونیسـتې مفکورې لارویـان د خلق ګوند غړې پـه تیره بیا د حفیـظ الله امین[1] لـه ډلې دي چې امین ترټولو کمونیسـتانو

---

شو او د ۲۰۱۳ میلادي کال د جون په میاشت کې د پاکستان د پارلمان له لوري څخه د صدر اعظم په توګه وټاکل شو، او اوس چې ۱۳۹۵ لمریز کال دی هغه په ژوند شپې او روځې تېروي. زندګی‌نامهٔ نواز شریف (۱۹۴۹-)، وبسایت همشهری آنلاین، د مطلب کود: ۳۷۷۱۵.

۱. حفیـظ الله امیـن د حبیب الله زوی؛ پـه ۱۹۲۹م کال، د پغمـان د «قاضي‌خیلـو» پـه کلـي کې پیدا شـو. په ۱۹۲۵ کال کـې یې د خلق ګوند عضویت تر لاسـته کړ او په کمه موده کې یې د خپل اسـتاد ترکي په مرسـته د حزب نظامي څانګې مسـؤلیت پر غاړه واخیسـت. او د همـدې موقـف پر اسـاس یـې د ۷ د ثور کوتا بنسـټ کېښـود او داود خان یې را وپرزاوه. امین د خپل لوی رهبر له مرګ نه وروسـته د مصئونیت، قانونیت او عدالت په شـعارونو سـره د حـزب د لومړي کس په توګه د ملـک چارې په لاس کې ونیولـې، خپـل پخواني جنایات د خلق او پرچم د نورو غـړو جنایتونه یې هم په ترکي ورواچـول، ویـل کېـږي امین سـره له دې نه چـې له نورو څخه یې ځان د روسـانو ښـه دوسـت ګڼـه پـه کولمبیا پوهنتون کې یـې د زده کړې پر مهال په غیر مسـتقیم ډول له «CIA» څخـه مرسـته تر لاسـه کولـه. او د څو اړخه جاسـوس په توګه یـې رول لوباوه، د امیـن د وژنـې پلان چې د جنرال «پاپوتین» او «تابییف» د شـوروي اتحاد د سـفیر، د دفاع وزارت د لومړي معاون «مارشـال سَـکولوف» تر نظارت لاندې طرح شـوي وه، روسـانو لومړی امین د سـوپ خوړلو په واسطه مسـموم او وروسته د ټـټک تیري په واسطه یې هغه په قتل ورساوه. د امین په مرګ او د ۱۰۰ ورځو حکومت څخه وروسـته روسـانو ببرک چې د «پرې شـکېدلي یابو» په نامه یادېده په افغانستان کې په قدرت

د اسلام دښمن و.

مونږ یې پیژنو، چې په دفاع داخله او امنیت وزارتونو کې دندې لري، دهغوی لست را سره دی، فکریې نه دی او ښتی او کمونیستی مفکوری یې نه ده پریښې، یو ازینی بدلون چې په کې راغلی هغه دادی چې پتکی یې پرسر ایښې او زیره یې ده. په خپلو خاصو جلسو کې پرطالبانو ملنډې وهي او ورباندې خاندي او په داګه وایي:

د مجاهدینو په جاروکولو خو بریالي شول او دطالبانو نوبت به هم راورسیږي او دا هغه حقیقت دې چې طالبان یې لري وینې خو مونږ یې نږدې؛ نو که چیرې مخه یې ونه نیول شي، ناوړه پایله یې حتمي ده.

مونږ د دولتونو یا ډلو په ښو د اسلام د دښمنانو له توطئونه حیرانیږو؛ خو حیران پدې یو، چې څوک ځان د دیني مدارسو طالبان ګڼي؛ نو څنګه د خپلو ورونو مالونه لوټوي او دآبرو تویول یې روا ګڼي، په داسې حال کې پیغمبر اسلام - صلواة الله علیه و سلامه - فرمایلي:

﴿.. كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ﴾[1]

(د مسلمان ټول څیزونه پربل مسلمان حرام دی، وینه، ابرو او مال یې.)

د ډیرې حیرانی وړ خو د پاکستان دیو شمیر عالمانو موقف دی چې د افغانستان د اسلامي دولت، جهادي رهبرانو، او مجاهدینو پرضد غیرشرعي او ناروا د جهاد فتوا

---

ورساوه. افغانستان در پنج قرن اخیر، ۱۰۲۳ – ۱۰۳۶: مخونه.

۱. د حدیث کامل متن دادی: ﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ~ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ Y : لَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنْ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ﴾، صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۴۶۵۰.

وی ورکوی هغوی چې د اسلام د عزّت لپاره یې خپل سرونه په تلی کی نیولی دی.

دوی چې نه د علم قد است او سپیڅلتیا وساتله او نه یې د فتوی امانت رعایت کړ؛ نو پاک رب العالمین ته تری شکایت کوم او منتقم جبار خدای ته یې سپارم:

﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ.﴾[1]

(او ژر به پوه شی، چې کوم څوک چې تیری وکړی ډیر ژر به پوه شی، چې کوم ځای ته راستونه شوید ی.)

و:

﴿قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ.﴾[2]

(زه خدای ته د خپل غم او خپګان شکایت کوم.)

ښاغلی بن لادن[3] او یاران یې باید له خدایه وویریږی، هغوی چې د افغانستان د مظلوم ملت خلک وژنی او ورانی ته یې راهڅوی او خپله شتمنی د تی خورو ماشومانو او بوډاګانو په وژنی لګوی دوی ته وایم که جِهاد غواړی نو اقصی ته لاړشی چې هغه پاکه ځمکه د جِهاد لپاره ډیره وړتیا لری د انتقاضه په څنګ کی ودریږی د بې ګناهانو وژنه د فتنی پیداکول او د مسلمانانو د کورنو یجاړونه د امیړنیو او ښتینو نارینه و دود خوی او خاصیت نه دی.

---

۱. شُعرا / ۲۲۷. ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيراً وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ﴾ (خو یوازې هغه خلک د دې وړندې چې ایمان یې راوړی، نیکې کړنې یې خپلې کړې، الله پاک یې ډیر یاد کړی او د ظلم او تیرې په بدل کې یې غچ اخیستې دی، هو! ظالمان به ډیر ژر پوه شي چې اخرنې برخلیک به یې څه وي؟)

۲. یوسف / ۸۲. ﴿قَالَ إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللَّهِ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ﴾ (یعقوب وویل: زه خپل غم او خفګان یوازې یو الله ته څرګندوم او د الله له لورې ما ته هغه څه ښوول شوي دي چې تاسې پرې نه پوهېږئ.)

۳. د ابن لادن د پېژندلو لپاره دې منبع ته مراجعه وکړئ: أسامة بن لادن، الجزيرة نت، الأحد ۱۴۲۵/۸/۱۸هـ الموافق ۲۰۰۴/۱۰/۳م، (آخر تحديث) الساعة ۱۹:۲۳ (مكة المكرمة)، ۱۶:۲۳.

عالمان ورونو !

دافغانستان وضع ډیر خرابه ده او دعالمان ورونه باید په دې پوه شي چې ناولې لاسونه په خورازرنګي په طالبانو کې کار کوي چې د میني، عدالت، سولې او وروری د اسلام ناوړه انځور کړی او دوی چې وژنې کوي، ډار او ویره اچوي، ناپوهي خوروي، نو خلک ترې داسې انګیزې چې طالبان همداسې یو نظام راولي لکه څنګ چې دی.

دوی چې ته امنیت وایي دا قرآني مفهوم امنیت نه دی چې له ویرې او ډار جنې نه سړی په امان وي بلکې استبداد او دځان دویرې له امله چوپه خوله پټې کیدو ته امنیت وایي چې دا له تیوپان نه د مخکې حالت نښې نښانې دي.

ای ورونو !

هیله من یم طالبانو ته نصیحت وکړی، چې هغوی جګړې ته شا کړی او خبرواترو ته چمتو شي، او له تاسې غواړم دسولې یو هیئت وټاکی او په مازې چې کنفرانس پای ته ورسیږي دواړو لوریو ته دی لاړشي او سملاسي اوربند دی اعلان کړی او همدارنګه له درانه کنفرانسه غواړم چې دظالمانه فتوا او ابطال او دڅه چې د خدای رضا وي توفیق دی راکړی چې عمل وربان دی وکړو.

وَالسّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

ستاسې ورور

برهان الدین رباني

فیض آباد - بدخشان، افغانستان

۳۱ / ۱ / ۱۳۸۰ هـ ش.

۱۵ محرم الحرام ۱۴۲۲ هـ ق.

# منابع

♦ قرآن کریم؛
♦ آشوري: داريوش آشوري؛
- دانشـنامۀ سياسـی، چـاپ کال: **۱۳۹۳** لمريـز، در ويشـتم چاپ، خپرندوی: د مرواريد خپرنې، چاپځای: تهران ايران؛
♦ ابن حِبّان: محمّد ابن حِبّان؛
- صحيح ابن حِبّان؛
♦ ابن سعد: محمّد بن سعد ؛
- الطبقـاتُ الكبرى، دارالفكر: بيـروت - لبنان، لومړی چاپ، **۱۴۱۴** قمري کال؛
♦ ابن شيبة؛
- المصنف؛
♦ الأصبهاني: أبونعيم الأصبهاني؛
- حليـة الأوليـاء وطبقـات الأصفيـاء، خپرنـدوی: دارالكتب العلمية، د خپرېدو کال، ۱۹۸۸م؛
♦ انصاري: سلطان محمّد انصاري؛
- جغرافيـای عمومـی ولايات افغانسـتان، چـاپ کال: **۱۳۹۴** لمريز، لومړی چاپ، خپرندوی: انتشـارات بين‌المللی سـرور

سعادت، چاپځای: کابل، دهن باغ څلور لارې؛
♦ البانی: ناصرالدین البانی؛
- السلسلة الصحیحة؛
♦ بختیاری: سعید بختیاری؛
- اطلس جامع گیتاشناسی، لومړی چاپ، خپرندوی: مؤسسهٔ جغرافیایی و کارتوگرافی گیتاشناسی، چاپځای: تهران، ایران، چاپ کال: **۱۳۹۴** لمریز؛
♦ بزرگمهری: مجید بزرگمهری؛
- تاریخ روابط بین‌الملل (**۱۸۷۰ - ۱۹۴۵**)، اوم چاپ، **۱۳۹۳** لمریز کال، خپرندوی: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه‌ها (سمت) د انساني علومو د څېړنې او پراختیا مرکز، د خپرېدو ځای: تهران، ایران؛
♦ بهاء: ثریا بهاء؛
- رها در باد، خپرندوی: شرکت کتاب، لومړی چاپ، **۱۳۹۱** لمریز کال؛
♦ بیّات: عبدالرسول او ملګری یې؛
- فرهنگ واژه‌ها، د چاپ نوبت: دوهم، **۱۳۸۷** لمریز کال، خپرندوی: مؤسسهٔ اندیشه و فرهنگ دینی؛
♦ بیهقی: احمد بن حسین بیهقی؛
- شُعب‌الإیمان، خپرندوی: دارالکتب العلمیة، بیروت– لبنان؛
♦ حسن: دکتور حسن ابراهیم حسن؛
- تاریخ سیاسی اسلام، ژباړه: ابوالقاسم پاینده، لومړی چاپ، چاپځای: ایران، چاپخانهٔ ماه منظر، چاپ کال: **۱۳۸۵** لمریز؛
♦ حق‌شناس: شیراحمد نصری حق‌شناس؛

- د سایس و جنایات روس در افغانستان، تهران: فرهنګی کمیټه، د افغانستان اسلامي جمعیت، د خپرېدو کال: **۱۳۶۳** لمریز؛
♦ دهخدا: علی‌اکبر دهخدا؛
- لغت‌نامهٔ دهخدا؛
♦ ریاض: محمّد ریاض؛
- ادبیات فارسی در شبه قارهٔ هند و پاکستان: مجلهٔ «هنر و مردم» **۱۳۵۴** کال، دلرم میاشت – شمېره: **۱۵۷**، (له **۶۲** نه تر **۷۲** مخ پورې)؛
♦ سباعی: دکتور مصطفی سباعی؛
- سیرت نبوی، درسونه او عبرتونه، ژباړه: فضل‌الرحمن فاضل، خپرندوی: بنګاه انتشارات میوند، چاپ کال، **۱۳۹۱** لمریز؛
♦ سجستانی: ابوداود سلیمان بن اشعث سجستانی؛
- سنن أبی داود، دارالکتاب العربی: بیروت- لبنان؛
♦ شارقی: محمّد کاظم شارقی؛
- ارزش خون در کمونیزم و اسلام، میثاق خون، **۴۴**: مخ، پرله پسې شمېره دیرلسم، کال: دوم، د افغانستان د اسلامي جمعیت فرهنګي کمیټه، د خپرېدو کال، **۱۳۶۰** لمریز؛
♦ صراف‌یزدی: غلامرضا صراف‌یزدی و محسن صبری؛
- سازمان‌های بین‌المللی و نظریه‌های روابط بین‌الملل، لومړی چاپ، چاپ کال: **۱۳۹۱** لمریز: ایران مصور، خپرندوی: نشر قومس، تهران، ایران؛
♦ العسقلانی: ابن حجر العسقلاني؛
- فتح‌الباری شرح صحیح‌البخاری، باب إثم من قتل ذمیاً بغیرٍ حق؛

♦ عظیمي: جنرال محمّدنبي عظیمي؛
- اردو و سیاست در سه دهۀ اخیر افغانستان، دریم چاپ، د سلواغه ۲۲، ۱۳۷۸ لمریز کال، خپرندوی: مرکز نشراتي میوند؛
♦ علي بابایي: غلامرضا علي بابایي؛
- فرهنگ سیاسی آرش، دریم چاپ، چاپ کال: ۱۳۸۷ لمریز، خپرندوی: انتشارات آشیان، چاپځای: تهران؛
♦ عمویي: محمّدعلي عمویي؛
- «خیانت به سوسیالیسم - پس پرده فروپاشی اتحاد شوروی»، روجرکیران - توماس کني؛
♦ فرهنګ: میر محمّدصدیق فرهنګ؛
- افغانستان در پنج قرن اخیر، لومړی او دوهم ټوک، د محمّدابراهیم شریعتي په زیار، خپرندوی: انتشارات عرفان، شلم چاپ، چاپ کال: ۱۳۸۸ لمریز، چاپځای: ایران؛
♦ القرضاوي، د: یوسف القرضاوي؛
- التطرف العلماني في مواجهة الإسلام (نموذج ترکیا وتونس)، دارالشروق، قاهرة، د خپریدو کال، ۱۳۸۷ لمریز؛
♦ کامګار: جمیل‌الرحمن کامګار؛
- کرونولوژی حوادث تاریخی افغانستان، دوهم چاپ، چاپ کال: ۱۳۸۲ لمریز، خپرندوی: بنګاه انتشارات میوند، کابل، افغانستان؛
♦ لاهوري: محمّداقبال لاهوري؛
- ګزیدۀ شعرهای اقبال لاهوري، اوم چاپ، چاپځای قدیاني، خپرندوی: موسسۀ انتشارات قدیاني، چاپځای: تهران، ایران، چاپ کال: ۱۳۹۰ لمریز؛
♦ لاهوري: محمّداقبال لاهوري؛

- کلیّـاتِ علامه اقبال لاهوری، خپرندوی: سـپهر شـمس، اتم چاپ، چاپځای: تهران، د خپریدو کال، ۱۳۸۸ لمریز؛
♦ متروخین: واسیلی متروخین؛
- کی. جی. بی در افغانستان، ژباړه: حمید سیماب؛
♦ مورو: د. محمّد مورو ؛
- انتصر الأفغان وسقط المنجل والسندان؛
♦ النیشابوری: أبوعبدالله الحاکم النیشابوری؛
- المستدرک علی الصحیحین؛ خپرندوی: دار الکتب العلمیة، بیروت، لومړی چاپ، چاپ کال: ۱۴۱۱ قمري؛
♦ النیشابوری: مسلم بن الحجاج النیشابوری؛
- صحیح مسلم، دارالکتب علمیة، بیروت - لبنان، لومړی چاپ، د خپریدو کال: ۱۴۱۲ قمري؛
♦ یوسفزی: شیرشاه یوسفزی؛
- تاریخ مسخ نمی‌شود ؛
- د کورت والدهایم، ژوند لیک (۱۹۱۸-۲۰۰۷) وبسایت همشهری آنلاین، جمعه ۲۵ چنګاښ ۱۳۸۲- ۱۱:۵۰:۳۳، د مطلب کود: ۲۴۳۱۹، http://www.hamshahrionline.ir/details/24319؛
- دارالعلوم دیوبند ؛ مادر مدارس و دانشگاه‌های اسلامی در شبه‌قارۀ هند ، نورعالم خلیل امینی، ژباړه: عبدالرؤوف رخشانی، د ندای سنت وبسایت، وري ۱۳۹٤ لمریز، http://www.nedayesunnat.com؛
- میثاق خون، جنایات کمونیزم در طول تاریخ، ۷۰–۷۳ مخونه، اتمه شمېره، چنګاښ ۱۳۶۰ لمریز، لومړی کال؛
- هفته‌نامۀ مجاهد ، ۱ او ۳ مخونه، پنځم کال، ۲۴ شمېره، د تلې ۲۸، ۱۳۸۲ لمریز کال؛

- هفته‌نامـهٔ مجاهـد ، ۱ او ۳ مخونه، پنځم کال، **۲۴** شـمېره، د تلې ۲۸، ۱۳۸۲ لمریز کال؛
- زندگی‌نامهٔ نواز شریف (۱۹۴۹-)، وبسایت همشهری آنلاین، د مطلب کود: **۳۷۷۱۵**،
http://www.hamshahrionline.ir/details/37715؛
- اسـامة بـن لادن، الجزیرة نت، یک شـنبه ۱۴۲۵/۸/۱۸ لمریز کال چې لـه ۲۰۰۴/۱۰/۳م کال سـره سـمون خوري، (وروسـتی خبرې) ساعت ۱۹:۲۳ (مکّة المکرمة)، ۱۲:۲۳.